April 21, 1958

د ۱۳۳۷ ش کال دثور (۱) د۱۳۷۷ ق کال ه کوچنی اختر (۲) د۱۹۵۸ع کال د اپریل (۲۱)

ځلې

پر له بسی گڼه (٤٥٥)

دخدای په امان

د کابل مجلې محترمو لوستونکو!

د ۱۳۳۵ کال د ثور د اول نه ددې مجلې مسئولیت زما ترغاړه شوی و او د ۱۳۳۷ کال د ثور په اوله دې مسئولیت په رسمی ډول زما اوږی سپکی کړې - یعنی پوره دوه کاله ما په خپل وار دپښتنی دنیا خدمت دهمدې مجلې په چلو لو پر خپله اوږه واخیست خودا چه ما په دې مو ده کښې څه وکړل ؟

داسوال ددغه دوو کالو نشرات حل کوی . ممکن دلته زما دملګرو په نظر زمادا جواب مجهول شانته ښکاره شی اودڅه وضاحت ضرورت احساس کړی په همدې وجه وایم چه زه په همدی خدمت کښې یوازی نه وم بلکه زما سره د ټولو پښتنو لیکوالو مرسته په عام صورت او په خاص ډول دښاغلی صدیق الله رشتین ، ښاغلی ګل پا چا الفت تر پاملرنی لاندی چه زما دژوند په چارو کښې زما محترم استاد ان بلل کیږی په میاشت کښې دوه واره مجله طبع کړله او ضمناً می د اور لمبې ، لوړ خیالونه او ژور فکرونه . پښتو نثرونه ، د حنان بارکزی دیوان . هغه وویل ، او دبنګ د مسافری په نامه کتابونه هم په همدې وخت کښې دمجلې په ذریعه چاپ کړل چه دپښتنو علمي او ادبی تنده ماته کړی . ددې مسئولیت په دوره کښی ښاغلی جلالتماب پوه وزیر ډاکټر علی احمد پوپل زما لوی مشوق او ممدؤ زه دده دخاصې توجه ډېر ممنون یم اوس اوس چه ما دخپل پښتنی خدمت وار په دوو کالو مجله چلولو تیر باله د صلاصیت خاوندانو دادروند بار زما ډېر ګران ملګری ښاغلی حبیب الله تیزی ته وسپاره چه دځوانۍ او پوره تعلیم په قوت مجله وچلوی - زه په خپل وارده ته اول دمشرانو دښه مساعدت اطمینان ورکوم او بیا دده دپاره دهمدې مجلې په نسبت د خپلو نیمګړتیاؤ دپوره کولو ډېر ډېر توفیق غواړم .

په آخر کښی دخپل مرستیال ښاغلی زین الله او محمد شیرین مبیض دښی سلګری په نسبت له دوی نه ډېر ممنونیت کوم . دپښتنی دنیا داوړتیا په دعا

محمد دین [ژواك]

(۲۸ کال)

(۴) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر، گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ دپل خشتی دیله مقابل دتیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په دی ګنه کشی

۱	داریا یانو پخوانۍ ژبه او	ښاغلی خادم
۲	دپښتو ژبې پرقدامت یوه لنده مدلله تبصره.	« ع جلالی
۳	پښتانه دنورو په نظر کښې.	« ثابت
٤	دلاهور خاطرې.	« شفیق
٥	په پښتو ژبه کښې...	« ك لیبدیف
٦	نوی دنیا.	طاهره جانه
۷	یاته افسانی.	ممتاز بیګم
۸	پریشانی.	ښاغلی سیلاب سایی
۹	دتاریخ ارتباط اومناسبات...	« حسن سایي
۱۰	ولی	« عبد الاحد
۱۱	سری لمبې.	« سلیم
۱۲	قلم..	« « حبیب «

ولو لوه

کتاب : د ښاغلی بختانی اثر

ښاغلی خادم

داریا یانو پخوانۍ ژبه او تهذیب

څلور زره کاله وړاندی دهندو کښ دلوی غره نمر پر ېوانه پلوته دبخدی ، یا باختر یعنی بلخ په هواره اووښیانه ځمکه دآمو دسیند په غاړو یوقوم اوسیدو چه آریه ئې باله. (آر) په پښتو ژبه کښی اوس هم داصل ؛ بیخ او موند په معنی دی . (آرې) یعنی اصیل ، شریف او ساؤ . (آریه) دجمعې داظهار لفظ دی . لکه (آریه وګړی) یا (آریه قوم) .

بلخ چه په اصل کښی (بخدی) ، (بلهیکا) یا (باختر) ؤ ؛ زما په عقیده بخدی بخد بکد ، بکت ، پکت ، اوپښت یوتربله جوړشوی اواووښتی الفاظ دی. (پښت) زرګونه کاله مخکښی په باختر کښی دیو قوم نوم ؤ ، چه په زرګونو کالو کښی د تحول او تطور په قانون ورڅخه دپښتو ژبې دګریمر په قانون (پښتو) او (پښتون) جوړ شول .

دبلهیکا کلمه دبخدی له کلمی څخه وروستنۍ اومتأخره ده . په تحلیلی کتنی سره بلهیکا بلکی ته رسیږی چه په پښتو داور لمبی ته وایې داتوری دزردشت دبل کړو اورونو اودنور اوظلمت دفلسفی ددری نیم زره کالومخکښی یاد په خپله سینه کښی ساتی .

باکتر ، بیکتیریا ، یا - باکتریانا دیونانی لهجی په لیارو دباختر دکلمی نه جوړ شوي الفاظ دي چه بیخ یی هماعه دپکت اوپښت کلمه ده او تقریباً دوه نیم زره کاله مخکښی په بلخ باندی دیونانی سکندر دیرغل فجائع زړونو ته راولې .

څلور زره کاله مخکښې داریائې نژاد اوتبر پخوانی نیکونه په باختر کښی اوسېدل. دوی په هغه وخت کښې په مالدارۍ ګذاره کوله ، اود اوښانو ، ګډ ، وزو اونورو څاروولکه غوایی اوداسی نورولویی لویی رمی به یی ساتلې . دپامېرلمنی. داکسوس سیند یعنی جیحون چه مونږ یی آمو بولو ، غاړې او دمېمنی او غور غرونه ددوی دمالدارۍ سیمی وې . دغه وخت دوی د مالداری سره په زراعت او کرونده هم لاس پوری کړی ؤ ، او دڅاروو په ذریعه به یی تجارتی مالونه هم له یوه ځایه بل ته وړل .

دغسی معلومیږی چه دغه ساوتبر له امو څخه پوری غاړه او دهندو کښ څخه گوز پلوته هم تگ راتگ درلود. د هند پخوانو آریایانو خپل تاتوبی او مسکن ته (آریه ورته) ویلو چه په پښتو کښی اوس هم (ورشو) دسیمی، ماحول او چراگاه په معنی وجود لری.

څلور زره کاله مخکښی دپخوانو آریایانو په هیواد چه د بلخ او بدخشان په منځکښی دآمو په غاړو او دپامیر په لمنو کښی ؤ، مسلسله یخنی او ساړه راغلل، وا وری به ډیری کیدی او دوی به اته میاشتی دباندی وتلی نه شوه. نوله نا علاجی څخه قدیم اریایان دخپل تاتوبی (اریاویجو) په پریښولو مجبور شول او لوی مهاجرت شروع شو.

له څلور زره کاله مخکښی څخه بیاد دری نیم زره کاله مخکښی پوری اریائی قومونه او قبائل څه د شرق او لمر خواته په لور او څه دجنوب شرق وخواته، او ځینی هم سم نمر پریوانه ته وکوچیدل. هغه چه لمر پریوانه ته روان شوی وو، د کابل او ننگرهار په لیارو ورو ورو لاړل او له اباسینده پوری وتل او دهند مدنیتونه ئی تاسیس کړل. نمر پریوانه ته چه تللی وو، څه د تور دریاب او دفارس دخلیج په منځکښی پاته شول او څه په وچه وچه به خپلو مالو سره په مزمزه داروپا ممالکو ته ورسیدل. فارس په اصل کښی پارس او پارت دی دفارس قدیم پارتیه دولت دپارت قبیلی چه له بلخه تللی وه تاسیس کړی ؤ. پارت، اپاریتی او اپایدی یو لفظ دی هغه چه جنوب شرق ته خوزیدلی وو، د گردیز او گومل په درو کښی تیر شول او ترسند او بلوچستانه ورسیدل. اوس نو طبعا څه آریایان چه له نورو کلك او غښتلی وو په خپل اصلی وطن او هیواد کښی هم پاته شول چه ترا وسه شته.

دشرق، غرب او جنوب دمهاجرینو نو په ژبه او عاداتو کښی ورو، ورو، تغیر راغی، او په خپله ځمکه چه پاته وو هغوی دخپلی اصلی ژبی او قدیم اریایی تهذیب په ساتلو تر نور وزیات موفق پاته شول دغه اصلی ځمکی ته (آریانا) وائی، نا-یا- نه ظرفی سفکس دی لکه دلودیانا، دلودیانو ځای همدغه شان اریانا داریایانو ځای معنی ورکوی. اریانا دامو او اباسیند او پامیر او بحر هند ترمنځ ځمکی ته وایی. مگر هر کله چه اصل کلمه (پښت) وه، نو دپښت نه پښتو بخوا یا پښتیانا جوړ شول چه اوس یی هم په دغه ځمکه اطلاق کیږی.

دهند کلمه دسیند د کلمی نه جوړه شوېده. انډ، انډیا انډوس او هندس دیونان دلهجی په اساس دسیند دلفظ نه جوړ شوی دی چه ماخذئی اباسنیددی.

په دغو تیرو زرگونو کالو کښې لکه څنګه چه په هند کښې مهاتما بده پیدا شو. پس له مهاجرته
په بلخ کښې یو ډیر لوی انسان راښکاره شو. څه رنګه چه بده لقب دی او دمنور په معنی دی،
دغه رنګه دغه بلخی سپین زړی انسان ته خلکو سپین تمان، ورایه. مان یا من زړه ته وائي.
هر کله چه بده لوی عمر او زور والی ته وسیدلی ؤ، او پس له مرګه خلکو دده ښکلی مجسمې
جوړ ولې، نو دبده هد کلمی نه بوډا، بوډی. بت او بتخانه جوړ شول. وروسته دمجسمی نه دا لفظ
معشوقی ته لاړ وچه اوس ورته دپښتو، پارسی او ارد وادبیات ډک دی.
په دغه شان سره دغه بلخی سپین تمان ته (زوراستر) چه د (زورستر) یاد (ستره زړه) سره لګاولری
وو بل شو. سپین تمان یا زوراستر هماغه زردشت یا زرتشت دی چه د زرود تخت
لائق یا خاوند ؤ.
زردشت دبلخ لوی انسان چه دتنویت موسس دی دده ۲٤ جلده کتاب چه په یو ستکو باندی
دطلاؤ په اوبو لیکل شوی ؤ یونانیانو په خپل برغل کښې له لحانه سره یو وړ. دغه کتاب ژند
اوستا نو میږی چه دفارس هخامنشیانو په ډیرو خوار بوخه له زړوا ثارو اوخه له حافظو
څخه راټول او بیا مرتب کړ، خو کتاب په خپل اصالت پاته نه شو او متحرف شو.
اروپائی مؤلفین دژند اوستا عجیب اوغریب تاویلونه کوی او په معنی یی نه پوهیږی. خو ژند —
داژوند — او (اوستا) داوو بنتی یا معنی دی. لحکه څه اصل کتاب دژوند له مختلفو خواو
څخه بحث کوی چه و روسته پکښې تحریف وشو.
اوس هم لرغو نو اریایانو په خپل معبودته (دیوا) ویلو. دیوه په پښتو کښې چراغ ته وائی.
دنن ورځی هندی دیو، دیوی، مهادیو، او دغه شان د فارسی دیو او پری د همدغه کلمی
او مفکوری مشتقات دی.
له دغو مثالونو څخه دومره نتیجی لاس ته راځی چه که پښتو ژبی ته چه له زرګونو کالو
څخه دافغانستان دغرونو به منځ کښې ژوندی پاته ده. د دنیا لوی لوی علماء توجه و کړی نو
دتولو اریائی ژبو دبیخ او ستی، او دقدیم اریائی تهذیب او تمدن، او د سامی او اریائی ژبو
مابه الاشتراك مسئله او دتاریخ نور رموز او اسرار به ورته حل شی. دغور او پامیر دغرونو
په زړونو کښې د پری داسی خزانی پټی پاته دی چه دا یقم د عصر دانسان لاس
او مغز وته انتظار باسی!

ښاغلی غ «جلالی»

د پښتو ژبی پر قدامت یوه لنډه مدلله تبصره

آریائی لرغونی ژبه او پښتو:

داخبره څرګنده شویده چه زړو آریانانو خپلی لومړی باندې (ټاټوبی)، آریانا ویجه لیاویجو، بلله، اولدې کبله چه دوی آئین، دو دونه لرل، نو، دکتور ګوستاولوبون وائی: دا ښایی چه آریانانو، دخپل یوځای ژوند تیرولو په زمانه کښی یوه ژبه لرله، او په هغه ژبه یې خبری سره کولی داژبه باید «اریك» و بلله شی چه اوس ورکه ده، خو لږ تر لږه به له قبل المیلاد څخه (۲۴۰۰ - ۳۰۰) کاله د مخه ژوندی وه، داژبه داریایانو مشترکه ژبه وه چه دوی ټول هغه وخت پدې ژبه سره ګړېدل. لدې ژبی څخه دسنسکریت ژبه جلاشوی ده... مګر هغسی چه د پښتو، د ځنو ژوندو لغاتو له تتبع څخه څرګندېږی او په ځنو نورو دلائلو سره پښتو هغی مورنۍ ژبی ته، چه له هغی څخه سنسکریت، او اوستا زېږېدلیدی خورا نژدی او پښتو یی هم سکه لورده... داخبره په دوه دلیله ثابتېږی لومړی د آریایانو لرغونی کلمات چه تر اوسه په پښتو کی ژوندی پاته شویدی دوهم داچه د آریایانو، هغه ډله چه هندته ولاړه، ژبه یی سنسکریت شوه چه وید هم پدغه ژبه لیکل شویدی... او هغه بله ډله آریایان چه ایران ته ورغلل ژبه یې لرغونۍ پاړسو شوه... مګر هغه تبر چه په بلخ کښی پاته شو. او بیا له (۱۰۰۰ تر ۴۰۰ ق،م) له هندو کش څخه راواوښتل او د دې هیواد په ختیزو غرونو، او دا باسیندپر غاړو میشته شول د بخدی په نامه (بخت-پکهت-پښت-پښتون) بلل کېدل چه هغه نوم او پخوانۍ ژبه ددوی تر اوسه پاته او دوی لاساتلیده... دلته ځنی نور لغوی دلائل هم موجود دی لکه:

د (آریا) کلمه پخپله د «آریا-آرین» کلمی د پښتو ژبی داصالت لپاره لغوی سند دی - ځکه هر کله چه د آرین لفظ خور الرغونی او د شریف په معنی دی، ځکه آریایانو په خپل مقابل کښی تور رنګونه دیسو، ویل چه دواړی کلمی په رګوید اکښی ذکر شویدی او په سنسکریت کښی آریا، او په زند کښی ایریا، په هغه معنا راغلیدی.

جیګر المانی محقق وایی چه آرین له (آر) څخه مشتق دی چه په سنسکریت کی داصل او (بنسټ) په معنی دی او ځنی پوهان وایی چه آریا له (آر) نه مشتق دی چه پلرغونی سنسکریت کی د کرهڼی (زراعت) مفهوم ښندی اوس چه مونږ پښتو ته راشو، پدی ژبه کښی د دغو دواړو معناؤ لپاره چه پوهانو د (آر) په باره کښی ښو د لیدی، ژوندۍ کلمی موجودې پاته دی،

۱- د پښتو مرکې په لوی قاموس او دراورتی په کتاب کی چه ذکر شوی زیاتره قبائل یی د اصل او اساس په معنی استعمالوی، او د پښتو په ادب کښی د یوې مستعملی کلمی په حیث ذکر شو یده، زمین داور اکبر د ۸۰۰ه په حدود کښی وائی:

«د غم آره بی شوه تینګه زما په زړه کښی* د رقیب سره خندا کړی هوسېږی» ملا الف هوتك چه بحرالایمان یی په (۱۰۱۹ه کی نظم کړی وایی:

«دی له آروو ښاغلی!
ځکه شو په وې نتلی»

پیرمحمد میاجی د (۱۲۰ ه) په خدو دو کی وایی:

«شیخ متی چه خلیلی وو»
دی له «آر» لوی ولی وو»

۲- که د (آر) د همه معنی یعنی کرهڼه راواخلو، دا کلمه هم کټه مټه په پښتو کی تر اوسه شته - په قندهار کی بز ګران دلو په وخت کی هسی وایی: (آره - آره لور پرغاړه) پدې جمله کی د بز ګرانو حال راښئی چه دوی لومړی کښت کوی او بیایی ریبی نو آر پدې محاوره کښی خاص د کښت او کرهڼی مفهوم لری، او د «ارین» کلمه د پښتو له ګرامر سره مطابقه ده (ین) په پښتو کښی د نسبت د آداتو په ډول راځی لکه له خاوری څخه (خاورین) د (ه) په حذف سره، نو که له «آر» سره پدې قانون د نسبت (ین) ونښلوو (ه) غورځی او آرین تری چوړېږی او ښایی چه وروسته ماقبل اخر زور په الف بدل شی او (آریان) هم تری جوړ شو یوی آریانا ویجه: د مخه موو ویل چه آریایانو خپل پخوانی تاتو بی ته (آریانا ویجه یا ویجو (واج) ویلیدی او په اوستا کی د ۱۶، آریایی هوا دو په ضمن کښی (آریانا ویجه) هم یا دوی (وندیدار- فره کرد) او ددی کلمی معنی د (شریفانو «مځکه» کښی نو دا آریایی کلمه هم تر اوسه په پښتو کښی مستعمله ده او د قندهار د پښت او د خلق (او یجه د همزه به زور او مجهوله (یا) او د (جیم) په زور کی وایی لکه (زلمی انځر د خدای په او یجه نه پرېږدی) چه په جمله کښی او یجه د مځکی معنی ور کوی (آریاورشه) لکه په اوستا کښی چه د آریایانو زور تاتو بی آریانا ویجه بلل شوی او په پښتو کښی هم اثبات شوه، نو هندی آریایانو هغه خپل لرغونی هواد «آریاورته» یا «آریاورشه» باله چه معنی یی هغه دا صیلو شریفانو هیواد، دی او بیا (برهمناورشه) او (بهارته ورشه) تری جوړی شوی چه معنائی هغه تاتو بی او هیواد دی نور په مغربی سمت او قندهار کښی تر اوسه ورشو په اخر نی مجهول واو، د څړځای او مرتع ته وایی چه د سیمی او تاتو بی معناهم ور کوی، دا کلمه په ادبیاتو کښی هم ژوندی ده لکه حمید چه وای:

هغه سر کا زمانی د سپو دلو بو*
چه یی نه واهه مزری پل په ور شو*

بری د ری لرغونی د اریك ژبی کلمی په پښتو کښی ژوندی او مستعملی او اثبات و تحلیل شوی لکه:

۱ آ -آریا - زیـن ' پښتو آره
۲- ویجه -پښتو اویجه ۳-ورته
ورشه دپښتو- ورشو -پدې وجه
دپښتونژ دې رابطه دآریایانو
له مورنۍ ژبې (اریك) سره
تائید کیدای شي'وروسته دپښتو
رابطه له نورو آ ر یا یی ژبو
سره لکه سنسکریت ژند' زړه
پارسو ترخېرنې لاندې نیسو اودې
نتیجې ته راځو' چه دویدژ به
سنسکریت داوستاژبه زند دپښتو
خوندی خپلې آریایی مور ته
نژدې دی .

پښتو ن په ویدا کښې:

د لسو تبرو په جګړه کښې
دا جګړه د « پا رو شنی »
دایر وا نشي را و ی پر غاړه
پېښه شو یده - هغه لس قبیلې
چه په جګړه کښې ئې ګډون
درلود' پنځه قبیلې بې تراوسه
زمونږ په هیواد کښې شته او داسې
ښکاري چه پس لدې جګړې دوی
دهند ورشو ګانو ته خپل لېږد
نور بند کړیدی' اوهغه پښتنې
قبیلې داوی: پکهته(پکتویس=
پکهت=پښتون)
الینا (دورستان وګړی)
بهالانا (دبولان د د ر ي - لیا
دلغمان خلق)
شیوا (دکابل د شیو کی خلق
پورو(دکندهارادشاوخواخلق)
پکهت=پښتون په (۱٤۰۰ق'م
کښې دنام او نښان خاوندووچه
په ریګویدا کښې یې نوم یاد
شوی اوپکهت دپښتون دیاچه په
ډول' اوپکهت دتېر نوم دی دا
تا ریخي وثیقه د پښتنو ا همیت
ثقافت'سلطنت'سیاسي او اجتماعي
ژوند ترمیلاد پخوا د۱٤ پېړیو
په حدود و کښې رښتې او در یګو
ویداله سندروڅخه څرګندېږي .
چه پښتانه تل په جګړو کښې
بریالي وو' او ددوی تو لواك
خوراز یات قدرت درلرده ریګویدیك
کلچر ! ۳۵ »

پښتون په اوستا کی : پښتون
=پخدی داوستا دبخدی اصل
پکهت یا بخت یا پښت ؤ وروسته
بخدی ددوی په نامه د ښار نوم
شو چه ریښه یې هغه پکهت او پښت
دی چه د پښتو ن نو م تـر ي
زېږېدلی دی .

پښتون اویونانی مور خین :
هیرودوت ۸٤ :-٤۲۵ق'م پخپل
کتا ب کښې د پښتنو ف کر
کړیدی اودهیوادئې پکتیکاچه
داندوس اباسیین پرخنده پروت
دی اوخلق یې د پرغښتلی او مړنی
دی پوستینان اغونډی او غشی
لیندی اوچړې لری .

بطلیموس کلودیوس دپښتنو
هیواد پکتین یاد کړی اووایی
چه پکتین دیارو یامیراو جنوب
ته دپکتیانو تانوبی دې .

داخبره دانفنسیون'راورتی
بیلو' دارمستر' ترومپ' دکتور
هنری برنلز' فون سپیګل' لوریمر
کریرسن' اونورو مستشرقینوله
نظر یا توڅخه داسې څرګندېږي
چه پښتو دسنسکریت خورده او
له غربي ایراني ژبو څخه نه ده
بلکه په هند اوارین ډله ژبو پوری
اړه لری- خو خالصه هندی هم
نه ده اوله پخوا و ز مانو څخه
زړه مستقلـه ژبه اوپه لومړی
سر کښې له هندی او ایراني ژبو
څخه بېله شوی خو بیاهم ددواړو
ژبو سره په خصوصیاتو کښې اړیکی
لری' یوه مقتدر اوعوره ژبه ده.
په رانلونکی خبرو اترو کښې
به دویدا او سنسکـر یت' لغات
په پښتو کښې مطالعه کړو .

پښتانه دنورو په نظر کښې

٤ برخه -

دپښتنو دتاریخی مفاخرو په نسبت مصری مورخ ښاغلی محمود عباس «العقاد» دخپلو مباحثو په اول کښې لیکلی ی، داسلام په دوره کښې پښتنو دخپل سترمشر ابومسلم خراسانی ترقوماندانۍ لاندی وکولای شوو، چه دښوایو خورا ستره اوزیاته باشوکته اومقتدره امپراتورۍ یی ونړوله اودهغوی له سلطی خخه یی اول پښتانه چه له اول خخه درسول الله دآل بیتود حمایې په ملاحظه ورسره مخالف شوی و وخلاصی کړل، بیایی نوره اسلامی نړۍ دهغوله ریاست اوسلطی خخه وژغورله. دهغې په عوض یی دعباسیانو امپراتوری قائمه اومنځ ته راوسته اوپه بغداد کښې ئې ابوالعباس سفاح چه دآل رسول (ص ع) له کهول خخه ؤ د اسلام خلیفه مقرر کړ. یعنی دهغه عصر پښتنو اودغه نومیالی پښتانه «عبدالرحمن ابومسلم» داسلام دخدمت مقررات په بل رنګ کړل. دغو شخړو اوپه دغو نهضتونو کښې دپښتنو یوبل سترمشر امیر کروړ غوری هم دنومیالی ابو مسلم غرځستا نی مل ؤ. دوهم: دغه مصری لیکوال نورداسی لیکلی دی چه: د پښتونو دبرمکی (باختری- بلخ) کورنۍ ځینواشخاصود عباسیانو په دربار کښې دوزرات رتبی لرلی، په عین زمان کښې د غو پښتنو وزیرانو په عباسی دربار کښې دو مره احتیارات لرلچه ددغه اسلام دخلافت اویو کارو نوپه دوی پوری اړه درلوده. اوداهم ورسره ووچه بی پښتنو دسترمشر ابومسلم غرځستانی له خوښی اواجازې خخه خلیفه ددغه پښتانه وزیر دعزل اوبرطرف کیدلو وانه نه درلود.

دریم: وایی چه دپښتنو دوو ورو سترو کورنیو چه یوه بی دطاهریانو کورنۍ وه. بله یی د سامانیانو بلخی کورنۍ وه، دعباسی خلیفه ګانو په عصر کښې بی مستقل حکومتونه در لودل. او دعباسی خلافت له خوا ددغو پښتنی کورنیو حکومتونه په رسمیت پیژاندل شوی وو. اوثابته، اوخر ګنده کړې یی دهچه دادواړه کورنۍ پښتنی اودپښتنوله باغود وتبرونوخخه وی. یعنی غرځستانی ابومسلم اوبلخ برمکیان اوطاهریان اوسامانیان یی ټول پښتانه بللی دی. اوتصریح بی کړې ده چه داخلک پښتانه وو، باید پښتانه په هروخت کښې په دوی وویاړی!

خلرم: بی لیکلی دی چه: غزنویان نژاداً پښتانه، نه وو، بلکه ددوی نسب ترکانوته منسوب ؤ. خودایی هم زیاته کړې ده چه داکورنۍ که خه هم ترکی نژادته منسوبه وه خودوی د پښتنو په خاوره کښې پیدا او روزل شوی وو، اوله پښتنو سره بی قرابت اوژوندون لاره نودوی پښتانه او دافغان دخاوری پیداوو او وایی: چه دوی دپښتنو په خوښه انتخاب اوباچهان شوی وو، اوددوی امپراتوری دپښتنو پرمټ ولاړه وه او ددوی ټول کارونه دپښتنوله خوا انجامیدل.

نوباید دوی اوددوی امپراتوری هم دپښتنو ګڼله شی او چاته یی باید نسبت و نشی.

ددغه مورخ له پورتنی تفصیل خخه دپښتنو دتاریخ دبیان په موزد کښې بی ابومسلم او برمکی کورنۍ اودطاهریانو اوسامانیانو کورنۍ دخاوری اودتوطن له حیثه اوهم دنسب اونژ ادله حیثه خاص پښتانه بللی او ددوی تاریخی کارنامی اوتاریخی مقامی دپښتانه تبردپاره مفا خر ګڼلی دی، بالخاصه چه په دې موقع کښې بی یوالخی یوالخی دغزنو یانود کورنۍ نسب اونژادله پښتنو خخه جلا ګڼلی دی، مونږ دې نتیجی ته

رسیږو چه دغه مورخ اولیکونکی ته دتاریخی مستندودلائلو اواسنادوله مخی څرګنده اوپه اثبات رسیدلی ده چه پرته له غزنوی کورنۍ څخه دانور که ابومسلم او که برمکیان اوکه طاهریان او که سامانیان وو، ټول نسباً اونژاداً پښتانه وو. ځکه که داخلك پښتنانه نه وای نوهرو مرو به ئې هغوی هم لکه دغزنو یانود کورنۍ په شان مستثنا کړی وی، اوویلی به یی وو، چه دااشخاص هم لکه غزنو یانوغوندی یوالحی دتوطن او خاوری داوسیدنی له حیثه افغان ملت اوپښتانه ګڼل کیږی نه دنژاد او نسب له حیثه.

دویم: غرځستانی ابومسلم چه دابومسلم خراسانی په نوم مشهوردی، اوددغوسیمواوغرونواوسیدونکی چه په هغه عصر کښی چه له بنوا میوسره پښتنومقابلی اوجګړی لرلی، دنوموړی ابومسلم ملګری وو، دهغه وخت عربو اوځینو مورخینو د(بنوعجل-او بنوغلج) په نامه یاد کړی دی، اودهمدغی د(بنوعجل یا غلج) له قبیلی څخه یی ګڼلی دی. یعنی دافغانستان دغرځستان (اوسنی میمنی) اونورودغوسیمواوسیدنکی اود بنو امیو مخالفین یی په دغو دغونو مونو یاد کړی، اودغی قبیلی ته منسوب کړی دی. ځکه دعربو په اصطلاح دقبیلو نومونه اکثراً د(بنو فلان - لکه بنوتمیم - بنوامیه- بنوعباس وغیره) په نومونو یا دیدل.

نودلته زمونږ خلق یی هم دهغو دخپلی اصطلاح اودودپه مطابق بنوعجل اوبنوغلج بللی دی. اود (غلج) کلمه همهغه دغرځه اوغرڅه له کلمو څخه او ښتې او مقلوبه شوی کلمه ده چه غرځی اوغرځستان ور څخه جوړ شوی دی. په دی عصر کښی چه پښتانه دغزنوی سلطان محمود اودسلطان شهاب الدین غوری په وختونو کښی هند ته تللی دی، په دی زمانو کښی په هند کښی بیاداد(غلج اوغلجی) کلمی د(خلج اوخلجی) په کلمو بدلی شوی دی. اود(بنوعجل-اوغلجی) الفاظ چه په دغو زمانو کښی په همدغه مود کښی دعربو له خوا استعمال شوی دی، هغه هم داداغلج-او غلجی) کلمی دی. ځکه چه دغلج اوغلجی کلمی عجمی اوښتو آریائی کلمی دی، چه عربان یی په معنا اومفهوم نه دی پوه شوی نویی معربی کړی دی په داډول شکلو نو یی مقلوبی کړی چه دوی به یی البته به معنا پوهیدل اودمعنادفهم په غرض یی په دغو د(عجل اوعجلی) په صورت اړولی دی.

په دی طرز سره دکلما تو دمفهوم او معنا پیدا کولو په غرض. نوری پښتو او اریائی کلمی هم زیاتی په هغه عصر کښی عربو او عربو لیکونکو معربی کړی اوپه عربی شکلو نو یی اړولی دی. لکه د (سهاك) کلمه یی په (ضحاك) اړولی ده، او د (ساکستان) لفظ یی په (سجستان) بدل کړی دی او د (سور - اوسوری) کلمی یی په (زور-اوزوری) بدلی کړی دی. اود (گوزنان - اوسرپل) کلمی یی په جوز جان اورأس القنطره اړولی دی، اوداسی نوری کلمی هم ډیرې دی چه اوس هم هغه عصر په عربی لیکنو کښی ثبت اوشته دی. په دی ځای کښی هم د(غلج - غلجی - اوعجل- او عجلی) نومونه یوله بله سره بدل اومقلوب شوی دی اودغلج اوغلجی نومونه خوچه اوس هم شته دپښتنو دیوی ستری قبیلی اولوی تبر نومونه دی. چه هغه وخت عربو هم داخلق دغه تبر ته منسوب کړی دی چه ګواکی پښتانه یی ګڼلی دی او دپښتنو له تبر څخه وو، لکه چه اوسنی مصری لیکوال العقاد هم دوی پښتانه بللی دی!!

دریم: دطاهریانو کورنۍ ده چه دطاهر بن حسن بن مصعب بن فرخ په واسطه به د غور دغربی خواسیمی د(پوشنګ) په واسطه ددغی کورنی مستقل حکومت په افغانستان کښی تشکیل شو. دغه سړی په لنډه موده کښی د افغانستان په شمالی او غربی ولایاتو کښی له تخارستان څخه نیولې تر بلخ، میمنی او مرو او هرات او نیشاپور او کرمان او سیستان پوری پښتنی. مستقل حکومت جوړ کړ. داحکومت چه دابو مسلم د برم بیاژوندی کولو او ازیی پورته کړ او وی غوښتل چه دابومسلم په څیر بیادپښتنو دعظمت د پاره کار وکړی نو پښتنو هم په کلکه لاس ورکړ دپښتنو د استقلال په لاره کښی یی دخپل پښتنی طاهری حکومت مرامونه ښه پرمخ پوتلل چه حتی په فارس کښی

(طبرستان-اوگرگان)ولایتونه هم دپښتنو حکومت په تصرف کښې راغلل. خودغه طاهری حکومت له عباسی خلفاؤ سره ددوستۍ بنه روابط ساتل، دا یه دې ملاحظه چه لکه دابومسلم او عباسیانو ترمنځ چه مخالفتو نه پیښ شول او په پای کښې دپښتنو ابومسلم غوندې ستر شخصیت له منځه ووت او دپښتانه قوم برم او شوکت ته داډول غټه صدمه او زیان پیښ شو. دوهم وار داډول امور تکرار شی، نودغه حکومت پخپل وخت کې له عباسی خلافت سره زیات زیات کو مکونه او مرستې کولې.

او دا کورنۍ لکه چه مصری مورخ پښتانه بللی دی دغور دسیمو یوه پښتنی کورنۍ وه او دپښتنو په انسابو کښې هم یوه کورنۍ او تبرد طاهریانو په نامه راغلی دی، او دپښتنو دانسابو لیکونکو دطاهریانو کورنۍ دپښتنو یوه څانګه ګڼلې ده

خلورم: دسامانیانو کورنۍ ده چه مصری مورخ ښاغلی محمود عباس «العقاد» پښتانه بللی دی او د پښتنو په تاریخ کښې یې دوی کارنامې شمیر لې دی او ددوی تاریخی اوصاف یې ټول پښتنو ته منسوب کړی دی.- له دی جهته چه د دغی کورنۍ ستر نیکه (سامان) نومی شخص زمونږ د بلخ او باختر له پښتنو څخه او دغه سړی په خپل وخت کې د پښتنو داولسی مشرانو له جملې څخه یو مشر سړی ؤ او لکه چه په هغه وخت کښې به پښتنو داوښانو ګلې لرلې او داوښانو دقافلو چلولو کسب به یې کاوه چه په پښتونخوا کښې له پخوا څخه تر اوسه پورې دا کار یوالحی د پښتانه قوم پیشه او ملی رسم دی او په نوروچا کښې دا رسم نشته. بل داچه په پښتو کښې پرته له پښتنو څخه او لسی مشر بل څوک نه کیږی او نه کیدای شی لکه په اولسی چارو کې پښتانه پرته له پښتانه څخه دبل تو کم مشر توب او خانی عادتاً نه منی او نه تن ورته زدی او دا سړی چه سامان نومید د پښتنو داولسی مشرانو په جمله کښې دپښتنو مشر او خان تیرشوی دی چه مورخینو هم په دغه صفت سره ضبط کړی دی هو دمشیخت او پیرۍ او ارشاد په ډول سره چه دپښتنو مذهب او مسلکه دهغه تقاضا کوی دهر چا او هر نژاد داډول مذهبی او مسلکی مشرتوب منی او زیات اطاعت او خدمتګزاری ئې کوی لکه سادات او نور قریشی مشائخ او پخپله دپښتوستانه او میاګان چه په پښتونخوا کښې له پخوانو زمانو څخه دمذهبی او مسلکی مبلغینو او دطریقی دمرشدانو په ډول دی او پښتانه دهغو تبلیغ او ارشاد ته غوږ نیسی او په داسی مسلکی او تبلیغی امورو کښې پښتانه دهغوی مشرتوب منی خو په اولسی او قومی او دنیاوی چارو کښې پرته له خپلو پښتنو او قومی مشرانو څخه دداډول مرشدانو مداخله اولاس وهل هم نه منی. نو له دې لیاری هم ثابته ده چه سامانیان دپښتنو له خپلو نژادی او قومی مشرانو څخه وو، او دپښتنو یو نومیالی تیرؤ.

بل داچه: هغه وخت چه دپښتنو طاهری حکومت منځ ته راغی په دغه وخت کښې (داسد سامانی) زامنو دغه حکومت په دوره کښې ددغه طاهری پښتنی حکومت لوړی لوړی چوکۍ اشغال کړی وی او په پښتونخوا کښې یې لوړ لوړ ماموریتونه درلودل. او ددغی سامانی کورنۍ یو بل سړی چه (ابراهیم نومید) دپښتنو دنوموړی طاهری حکومت په عصر کښې دټولو پښتنی قواوو سپه سالار ؤ. چه ددغه حکومت دټولو عسکری قواوو قوماندانی دغه شخص ته سپارل شوې وه نو داهم یو لوی دلیل دی چه دغی کورنۍ له طاهری کورنۍ سره نژادی خپلوی او نسبی اتحاد لاره او لکه چه په ثبوت رسیدلې ده چه دپښتونخواد پښتنو له خوا دعباسیانو خلافت قائم او دبنوامیو په عوض منځ ته راغلی ؤ. او عباسیانو ته دپښتنو قوت او اقتدار خرګند ؤ او په ټوله اسلامی نړۍ کښې و دوی ته په امتیاز قائل وو، نو عباسیانو په هر وخت دا آرزو لرله چه پښتانه ددوی خپل او طرفدار وی، او هر کله به یې دهغو رضائیت او خوښی غوښته. نو په دغه اثر په دغه وخت کښې عباسی خلیفه «المعتمد» خاص دپښتنو د رضامندۍ حاصلولو په غرض د سامانی پښتنی کورنۍ یو شخص داسد سامانی لمسی (امیر نصر) ته د ما وراء النهر د حکومت منشور راو استاوه او په ما وراء النهر کښې ددغه باختری پښتانه حکومت په رسمیت وپیژاند. چه له (۲۶۱هـ) کال څخه وروسته تر (۳۸۹هجری) پورې دغی پښتنی باختری بلخی کورنۍ په ماوراء النهر

او دپښتونخوا په شمالي اوغربي برخو باندي باچاهي وکړه .

دغه ستراو مدنيت پروره حکومت (۱۲۸) کاله پرشمالي او غربي افغانستان او ماوراء النهر باندي او د ايران د هيواد پر يوه برخه لکه پر (جرجان اوطبرستان او دي) باندي حکمراني لرله. د افغانستان د غي ساماني شهنشاهۍ په ټول قلمرو کښي علم تهذيب او اسلامي مدنيت خپور کړي ؤ . او د پښتونخوا په شرقي او جنوبي ولاياتو کښي د پښتنو کورني او محلي حکومتونه وو ، او د نوموړي باختري ساماني امپراتورۍ تر تحت الحمايگي لاندي اداره کيدل .

دا ساماني امپراتوري هر وخت دپښتونخوا د پښتنوداقتدار او شوکت په ملگرۍ پرمخ تلله اودغو باچهانو هر کله له خپل هيواد پښتونخوا سره رابطه لرله او دخپل قوم قوت اوزور به هر وخت ورسره مل ؤ . لکه چه کوم وخت چه په پښتونخوا کښي غزنوي امپراتوري منځ ته راغله او ټوله پښتونخوا او ټول پښتانه دغزنوي حکومت تر بيرغ لاندي راغلل او بالخاصه دغرځستان شاران يي له منځه وايستل او له تخارستان څخه تر بلخ ، ميمني او مروي اوهرات اوغوراتو پوري اوتربست او گرمسير پوري سيمي او ددغو سيمو اوسيدونکي پښتانه ټول د غزنويانو په تصرف کښي شول. په نتيجه کښي ددغو سيمو دټولو پښتنو ارتباط له ساماني حکومت سره وشکيدو، اودغو خپلو سامانيانو ته دپښتنو کومك او مرسته نه رسيده، نوطبعاً دوي له خپل قوم څخه يو الځي پاته شول نو د دغه سبب له مخي و و ، چه د کاشغر (بغراخان نومي ترکي) پاچا چه ساماني حکومت يي له پښتونخوا او پښتنو څخه ځانته او جلاوليد نويي سترگي پرسري کړي له امير نوح ساماني څخه يي دبخارا تخت ونيو. خو بيا چه غزنويانو مداخله وکړه نوموړي بغراخان ترکي بي بيرته وشاړو ، اود ماورالنهر حکومت بيرته سامانيانو ته په لاس ورغي ، خوله بغراخان څخه وروسته دهغه زوي ايلك خان ترکي بيرته دخپل پلار بغراخان رويه تعقيب کړه بيا يي پرساماني حکومت باندي حمله وکړه او دا له خپله قوم څخه جلا حکومت ته يي ترکي يرغلونه متوجه کړل چه څويي په پاي کښي هغه ساماني باختري پښتني حکومت چه هر کله به دغه کاشغري ترکي حکومت ددوي مطيع او تحت الحمايه ؤ ، له منځه يوو وړ .

پخپل ذات کښي داورستني داستان دساماني باختري حکومت د پښتو نوالي يوالځني ستر دليل دي چه ښاغلي پوهان به البته ورته ملتفت او ځير شي . داپورتنۍ خبري علاوه له هغو ليکنو څخه دي، چه مورخينو ساماني شاهان اوساماني امپراتوري دپښتنو شاهانو او پښتني امپراتور يو په ډله کښي ذکر او راوړي دي . خوماهم دپوهانو داشاري په اثر دا لږلږ بيان بيا د هغو په حضور کښي عرض کړ چه داخلك پښتانه دي او زمونږ دپخوانو تاريخي مفاخرو په سلسله کښي يوروښانه باب دي.

ښاعلی محمد موسی «شفیق»

دلاهور خاطری

داسلامیانو جهانی مرکه دزرگر په کنډه کښې.

ددې کال په جنوری کې لاهور داسلامیانو دویمه جهانی مرکه ولیده چه په ډېر جم وجوش دپنجاب دپوهنتون په لوی هال کې سره راغونډه شوه ړومبنیء مرکه دامریکې دنیو جرسی په پرنستن کې شوې وه او تر ډېره حده ئې ددې دویمې نه توپیر درلود.

دپنجاب پوهنتون په دی کې ډېر صائب ؤ چه دلاهور ښار ددغسې یوی لوئی ثقافتی مرکې دپاره خوښ کړې دلاهور نه پخپله دعلم او ثقافت بوی راځی، شین او سمسور ښاردی او ښایسته ښه رڼه ماضی لری

دمرکې دشروع ورځ ددیسمبر آخره تاکل شوی وه چه په دغه ورځ دپاکستان داسلامي جمهوریت رئیس سکندرمیرزا مرکه پرانیسته اوورپسې تقریباً دوه ورځې دبحث اومناقشې نه سوا په نورو میله شکلو منډورامنډو تېری شوې دجنوری دوهمه وه چه کار شروع شو. دغه لاندینی عناوین دتقریر کولو او بیاورپسې دبحث او کره کتنی دپاره غوره شوی وو.

۱- اسلامی ثقافت، معنی اوماهیت ئی.

۲- اقتصادیات داسلام په اجتماعی بنسټ کې، مخصوصاً دارضی ملکیت قواعداودمالك اوزارع علاقه.

۳- اسلام اونوی افکاراو نظریات.

٤- اجتهاد اوپه اسلام کې دقانون دائره.

٥- په اسلام کښې ددولت اساس

٦- دغرب په تاریخ اوثقافت باندې د اسلام تاثیر.

۷- اسلام اوساینس.

۸- اسلام اونور ادیان.

۹- ددنیا په لمن کې داسلام برخه،

تاسې پخپله دمرکې اهمیت ددې عناوینو نه معلومولی شی. نن سباهر اسلامی مملکت په دغو ټولو موضوعاتو پوری تړلی مشکلات لری. دیوې خوا نه دغربی دنیا مادی او معنوی ترقیات مسلمانان دې ته مجبور وی چه دخپل ژوندانه دښه کولو دپاره دهغوی په لاره لاړشی.

دهغوی لاره خواول یوه مرکبه لارده چه په هغې کې دغرب صنعتی ترقی په ډېر مشکل دغرب دطرز تفکر او تهذیب اومعاشرت نه جدا کېدی شی یوورو کی مثال ئې دادی زمونږ یوځلمی یوروپ له ځی او هلته دبندونو اونهرونو په باب کښې پوره تحصیل کوی اوپس له څو کالو نه بېرته وطن ته راځی. دده دژوندانه عادات اواطوار

هماغومره بدل وی. لکه څومره
چه دده صنعتی معلومات بدل
شوی دی. دچلم ځای سگرټ
دتوشك ځای چوکۍ، دپگړۍ
یا کره کولۍ ځای شپو او دپښتنو
جامو ځای غربی سوټ بوټ
نیولی وی. داخو ظواهر دی.
په افکارو او نظریاتو کښې ددی
نه هم یوزیات خطرناك تحول
پېښېږی. اکثره ځلمیان د لنه
دخپل فرهنگ او ثقافت سره پوره
اشنائی نه لری. داسې کسان
که څه هم په هیڅ ځای کښې
بیا ددې حوصله نه شی موندلی
چه په ثقافتی موضوعاتو کښې
بینادی فکر وکړی مگر بیاهم
دهغه دنیا چه صنعت او ماشینی
ترقیء ئې دی ډېر به حیرت کړی
دهغه دنیا افکار او نظریات
حتماً دده په ذهن کښې یو معتبر
ځای لری. بېرته چه وطن ته راشی
دلته پخوانی نظریات او افکار
حکومت کوی او ددی دواړو
دجنگ نتیجه د دغسې ځلمی
ضیاع او وطن ته یوه حتمی خساره
ده. دا یو ډېر وړوکی مثال دی
ددې نه ئې همدغسی در واخله

نن برون دمسلمانانو په وطنو
کښې یو ذهنی کشمکش موجود دی
چه دهغی سبب دادی چه مونږ نه
پوهېږو دغرب د صنعتی ترقۍ
دتقلید په لاره کښې تر کومه
حده د خپل ثقافتی بنیاد نه
تېرېدلی شو. ځینې افراطی مقلدین
چه دغرب دترقی نمرئې ستر گې
برېښولی په مصر، پاکستان
او نورو اسلامی ممالکو کښې
په جهر وائی چه مدنیت یو کل
دی او تجزیه ئې امکان نه لری
ددې معنی داده چه که ستا
ښه ښه سر کونه خوښېږی، ښې ښې
ماڼۍ دې په کار ددوی ښه
ماشینونه غواړی دتگ راتگ
عصری وسائلو ته دې زړه کیږی
په بانك او اقتصادی حرکت کښې
دې دنوی دنیا گړندیء ساه
اچوی - که داټول غواړې، نو
سینما به ئې ضرور منې کافی
او هوټل به هم هماغسې جوړوې
هماغومره آزادی به ور کوی،
چاپورې به کار وغرض نه لرې
چه څه کوی هغه به کوی جامې
به هم حتماً غربی اغوندې، داستا
جامې ستا دشرقی کسالت او دا

ستا معاشرتی محدودیت ستا
دشرقی تنگ نظریء نښې دی
ددې سره دغرب تمدن مشین وی
او که بل څه ستا وطن ته نه شی
راتلی دا هماغه د «هڅ گل بې اغزی
نه دی» فلسفه ده او گویا په دی
اساس دغرب دحسناتو د گټلو
دپاره باید هغه څه ئې چه مونږ ته
سیئات ښکاری هغه هم په پراخه
تندی ومنل شی. که ته د خپل
ښار په سینما کې د خپلو ځلمو
دپاره نیمې بربنډې ښځې ښودل
بد گڼې ددې معنی نو - بناء
پر دې فلسفه - داده چه ته گویا
عصری ترقی او تمدن دسره نه غواړی
که تا ته دښځو او نرو هغسې اختلاط
بد ښکاری لکه څنگه چه په غرب
کښې شته ددې معنی نو هم داده
چه ته دغرب د ترقی نه گویا
تیرئی دا منطق ما په مصر کښې
دډېرو ځوانانو نه اوریدلی دی
او هلته خو را قوی هم ښکاری که
څه هم غالب نه دی.

بل فکر دادی چه «خذ ما صفی
ودع ما کدر» او لکه څنگه چه ددې
درانده عبارت نه معلومیږی
دا ابتداءً ازهری منطق ؤ چه
وروسته وروسته ئې په مصر کې

عمومیت وموند. ددې فکر خاوندان
وائی چه هر قوم او هر تبر په دنیا
کښې یو خاص ثقافتی بنیادلری
مسلمانان هم ددې قاعدی نه
کومه استثناء نه ده. دهرې اسلامی
خاوری خلك د اسلامی اساساتو
اوخپلو ملی غنمنا تو نه گډ یو
بنیاد لری چه د مغوی د پاره
ددغه بنیاد نه تیر بدل دمرگ
مرادف دی دغو کسانو ته نو دوه
خواری په غاړه دی اول خو داچه
دغه خپل بنیاد چاڼ کړی او
هغه خرافات اوغیر ضروری
موادتری وباسي د کومو یشی
تلل چه اوس هم مشکلات پیښوی
اوهم غلط دی او بیا و باید
دغرب د ترقیاتو سیلاب ته چه
مخ په شرق راروان دی همدغسې
بیدار کینی چه ددوی دثقافت
بنیاد لحن سره لاهو نه کړی.

په عام طور یو مسلمان ته نن
داسوال ډیر بنیادی سوال دی
چه دی نو باید دخو مره شی نه تیرشی
چه هم مسلمان پاتې شی او هم
دغرب د صنعتی ترقی د کاروان
نه وروسته نه شی؟

زمونږ سره دلا هور په مرکه
کښې هم دغه سوال پخپل ټول
هیبت حاضرؤ. ورپسې نو داخبره
ده چه مسلمان باید پخپلو
خزانو کښې گوتې ووهی او هغه
ملغلری چه دمودو مودو گردونه
ورباندی پراته دی پاکې کړی
او دخپل نني ژوندانه دپاره ئې
میدان ته راوباسی.

البته تاسې پخپله پوهیږئ
چه دغسې لویې مرکې دغسې
سوالونو ته په یو کرښه یا دوه
کرښو کښې جواب نه شی ویلی
شك نشته چه ددیر و پوهانو
عالمانه تقریرونه اومنا قشات
په دی لاره کې اوی کومك ؤ
او دخلکو اذهان ئې تر ډیره
حده پراخه کړل سړی دومره
ویلی شی چه دغه لاندینې کرښې
دمرکې عمومي انجاهات را
غونډوی.

مسلمانان باید خپله خودی
دلاسه ورنه کړی.

داجتهاد اساس په عصری توگه
راژوندی کول په کار دی چه
دهغی نه دعصری قانون سازی
کارواخیستل شی.

مسلمانان باید خپل اسلامی
قانون په عصری او علمی طور
په گډه سره د کتنې لاندی
ونیسی او دعصری تجربو په رڼا
کښې خپل تازه قوانین په هغې
باندی مبنی کړی او دغربی
قوانینو د ترجمې او د هغې
د مصنوعی او غیر طبی تطبیق
په ځای دغه بنیاد دی کار ته
ملاوتړی.

په دې کارونو کښې باید ټول
اسلامی ممالك سره لاسونه ورکړی.

مسلمانان باید دیو بل
دتجاربو نه استفاده وکړی او
خپل خیر باید اول پخپلو منځو
کښې سره تقسیم کړی.

داچه دامرکه ځنګه شروع
شوه او یا کستان ورنه څو مره
گټه واخیستله که څه هم وویلو
ور خبرې دی خو اوس ورباندې
دلته بحث نه کیږی همدومره
ویلی شو چه دپاکستان محافظه
کاری طبقې په جرگه کښې
کومه قوی نمایندگی نه
دراوده واقعاً ډیرو خاموخلکو
دځینو اسلامی دولتونو ثقافتی
پرمخ تګ نمایندگی وکړه داهغه
اشخاص ورچه داسلام مطالعه ئی
دغربیانو په کتابونو کښې
کړې وه او مخصوصاً دعربی

سره بیخی نا آشنا ؤ و . او په دې وجه ئې ځینې داسې خبرې کولې چه د اسلام د بسیطو اساساتو نه ئې د دوی بېخبرې ښوده د دې دپاره چه سړی مسلمان وی البته عربی ته ئې کوم ضرورت نشته مګر چه سړی په اسلامی مسائلو باندې ځان عالم کوی که مسلمان وی که نه - عربی ته ئې شدید ضرورت دی، زمونږ د ځینو پوهانو ورونونه دا خبره بیخی پاتې شوې وه. یو بل څه چه د مرکې ګټه ئې کمه کړه هغه د مرکې کوټې ته د عامو خلکو راپرېښودل ؤو چه که څه هم د پاکستان د داخلی سیاست په لحاظ به ئې فائده کړې وی مګر د مرکې علمی فضاء ئې په یوه مسرحی او تمثیلی فضاء بدلوله . همدغسې خامی مګر کاملاً په مقابل طرف کې د ځینو عربی نمایندګانو سره هم وجود لرلو چه د هغې نتیجه بېځایه تنګ نظری وه او د مجلس ډېر وخت ئې په عامو او غیر ضروری خبرو ضائع کړو .

مرکې بېله شکه چه د دنیا د ډېر وستر و مستشرقینو او د شرقی پوهانو ترمنځ یوه دلیدنې کتنی او دارا ؤ او نظریاتو د سره بدلون را بدلون موقع برابره کړه. دې مرکې د مستشرقینو د عادی غونډونه یو بنیادی تفاوت درلود او هغه دا ؤ چه دلته په موضوعاتو باندې صرف د علمی لحاظ نه بحث نه کېده بلکه د مسلمانانو د اوسنی ژوندون سره د دې موضوعاتو تماس او د هغوی د حاضر و مشکلاتو دپاره د حل د پیدا کولو هڅه د بحث او مناقشې په وخت غالباً په نظر کې نیول کېده. او دا چه مجلس په پاکستان - نوی «اسلامی جمهوریت» - کې ؤ د دې احساس او د دې رنګ د غالبیت سره پخپله یو کومک ؤ، نور که څه یاد شی نو هغه باید هغه تو د هر کلی وی چه د پنجاب د پوهنتون د رئیس نه نیولی تر استادانو، مامورینو او شاګردانو پورې ټولو مونږ ته وښود. د دوی مېلمه پالنه او هغه مشقت چه پر ځان ئې منلی ؤ د ډېر قدر وړ دی .

دلاهور ښار د پښتنو دپاره یو خاص اهمیت لری. د پښتنو مشرانو د توري خاطرات د دغه ښار په هر کاڼی او بوټی لیکل شویدی او افسانې خلکو ته هم یادې دی. د سلطان محمود او احمد شاه بابا نومونه هلته په زړونو ښکل دی. دلاهور موزیم پخپله د دې یادونو پوژوندې شاهد دی .

د اقبال قبر هم د پښتنی عزم او پښتنی خودی د یو عاشق یادګار دی. بزم اقبال مونږ ته هومره حرارت و ښود لکه څومره چه اقبال پښتنو ته ښودلی ؤ.

دلاهور بادشاهی جومات، دلاهور قلا، د جهانګیر او نور جهان قبرونه او د شایمار باغچې هم زمونږ دلاهور د خوږو خاطرو تاریخی شواهد دی.

زما یقین دی چه په دې څو مخونو کې زه هر څه نه شم لیکلی او ډېر څه مې اوس هم په زړه کې پاتې شول. دا فقط یو څو اشاری وی چه د مرکې بنیادی موضوعاتو او دلاهور د شپوورځو خوندور و خاطرو ته وشوې .

ښاغلی ك ، لیبدیف چه په دې و رځو کښې دپښتو دتکمیل دپاره کابل ته راغلی او کابل مجلې د۱۳۳۶ش کال په (۴۵۱) گڼه کښې تاسی ته دده لنډه سوانح دڅهری سره نشر کړه دادی ده دامقاله هم لیکلی ده او مونږ ئې عیناً نشروو چه دده کوم زحمتونه چه دپښتو په شاوخوا کښې پرځان ئې گاللی گرانو لوستونکو ته څرگند کړو او داورښیو چه ده په دې لار کښې دخپل زحمت په اثر څومره زیار ایستلی دی او ترڅه حده دپښتو په نحوی او گرامری مسایلو کښې بریالی دی .

له نحو څخه:

په پښتوژبه کښې مرکبی تابع جملی لرونکی جملی او دتابع جملی قسمونه

مرکبه تابع جملی لرونکې جمله معنی جملې ته وایو چه ددوو جلو څخه مرکبه وی او یوه ئی مستقله او بله ئی تابع وی یعنی وروستۍ نوموړې جمله دمستقلی تابع ده.

موږ دتابعو جملو قسمونه له دې نقطه نظره غوره او جلا کوو او پرې څېړنه کوو چه هغه جملی څه معنی لری او څه نحوی رول لوبوی .

زه په پښتو کښې ټولی تابع جملی په دولسو قسمو تقسیموم خو باید ووایم چه ددغې مسئلی فصل او حل کېدل مکمل او پوره نه دی او ډېر عمیق تحقیقات او نوری علمی مطالعې او هم وخت غواړی.

۱: مرکبی جملی چه دمسندعلیه تابع جمله لری

دمسندعلیه تابع جمله دمستقلی جملی دمسندعلیه په حیث وی. هغه یادفاعل په حیث وی یاد مفکورې اصلی مطلب ښکاره کوی او د(څوک) او(څه) دپوښتنی ځواب را کوی.

مثلاً څه چه احمدته دی ویلی دی دتاسف وړدی.

هر څوك چه کوښښ کوی کامیابېږی .

هغه څوك چه دوطن او کام په خدمت کښې دوه مخه ولری ملی ځائن گڼل کېږی

۲- مرکبی جملی چه دمسند (خبر) تابع جمله لری :

دمسند تابع جملی دمسند (خبر) معنی ښکاره کوی اوداهغه وخت وي چه د مستقلي جملی مسند ددوو برخو څخه مرکب وی: یوه ضمیر (هغه، دا، څوك اوداسی نور) او بله فعل ربط (یم، ئې، دی، ده، یو، یاست، دی، اوهم ماضی) دی. داسی جملی عموما دمستقلی جملی دمسند دلمړی برخی دمضاف الیه په حیث وی او دمستقلی جملي په مسند پوری د (چه) په وسیله تړل کیږی.

مثلاً: وسله هغه ده چه په لاس راغله

ښه سړي هغه دی چه خپل کاونډیان ورڅخه خوښ دی

ادیب هغه څوك دی چه په ادبی علومو کښی دپوهی خاوند وی

۳- مرکبی جملي چه دمفعولیت تابع جملی لری :

دمفعولیت تابع جملی دښکاره اوڅرګند شوي مفعول په حیث وی اودمستقلی جملی په مسند پوری د (چه) په وسیله تړل کیږی.

په مستقلی جملی کښي اشارتی ضمیر کیدای شي چه مفعول وی، په دغه حال کښی دمفعولیت تابع جمله دهغه مفعول معنی ښکاره او افشا کوی او دمستقلی جملی په مسند پوری په عمومی وسیله تړل کیږی هغه وخت چه په مستقله جمله کښی اشارتی ضمیر شته دی نو دمستقلی جملی سره دتابع جملی ارتباط اومربوطیت ټینګ اوښکاره (واضح) څرګندیږی.

مثلا: زه هغه څه غواړم چه ته ئی هم غواړي.

دغی ښکلی پیغلی دانه غوښتل چه په دغه کاله ننوزی او خپل ګران ملګری په بل چا بدل کړي.

دشوروی اتحاد نماینده په عمومی اسامبله کښی ددنیاله ملتو څخه درخواست وکړ چه داتومیك وسله دی له منځه ورکه کاندی.

٤- مرکبی جملی چه دمضاف الیه تابع جمله لری.

دمضاف الیه تابع جملی دمستقلی جملی دیوه جز چه هغه یا نوم «اسم» وی یا بله کلمه چه دنوم په حیث استعمالیږی د مضاف الیه رول لوبوی.

دغه جملی په مضاف پوری د (چه) په وسیله تړل کیږی خو په پښتو کښی دتړلو او مربوطیت بل ډول وسائل هم شته.

مثلا: دپولیند حکومت غواړی هغه آبادی چه دجنګ په وخت کښی خرابي شوی وي بیرته جوړی کړي.

زمری خان او نور پښتانه چه باغ ته تللی وو اوس بیرته له باغ ګډراوزی. که دمستقلی جملی مضاف ادات لری نو دمضاف الیه تابع جمله دادات پسې راځی او په سر کښی ئی (چه) ویل کیږی.

مثلا: یوه بوډۍ ښځه ویوه لټ زلمی ته چه ویوه. دیوال ته تاست دی وائی ...

په دغه حال کښی دمضاف الیه تابع جمله دمستقلې جملی په منځ کښی راځی

که دمضاف الیه تابع جمله دمستقلی جملی دمفعول یا دجملی دبل عنصر دمضاف رول لوبوی نو دمستقلې جملی په مسندپوری تړل کېدای شی.

مثلا: یوداسی یارمی پیدا کړی وای چه په زور او پهلوانی کښی زما جوړه وای.

سپین سړی پښتانه هغه چاته وائی چه هر وخت رښتیا وائی او یومځی وی.

دمضاف الیه تابع جملی په سر کښی (لکه چه) هم استعمالېدلای شی

مثلا: هغه مبالغه ښه نه ده لکه چه پخوا رواج وه او هیڅ حدودئی نه درلوده

په آخر کښی باید داوویل شی چه دمضاف الیه جملی بل شکل هم لری لکه (هغه او به چه هیڅکله نه وچېږی خلک ئی پخی او به بولی څوك چه له خپل حقه تېر ېږي او له چا سره پخپلو حقوقو جګړه نه کوی په هغه باندی هر څوك ظلم کوی)

۵: مرکبی جملی چه دوخت تابع جمله لری

دوخت تابع جمله داخر ګندوی چه هغه فعالیت او عمل چه دمستقلی جملی مسند افاده کوی څومره موده، له څو وخته او تر څو پوری به جاری وی.

چه په مستقله جمله کښی دوخت قید نشته دی نو په دی حال کښی دوخت تابع جمله دمستقلی جملی په مسندپوری د (چه) په وسیله تړل کېږی.

مثلا: بېره هغه وخت پیدا کېږی چه د (په ځان باور) حسین بېخی ورك شی

په پښتو ژبه کښی دوخت تابع جملی د مستقلی جملی نه مخ کښی هم راځی چه په مستقله جمله کښی دوخت قید نشته او په تابع جمله کښی دوخت قید پیدا کېږی.

مثلا: دمخه تر هغه چه بیدېږی غاښونه په مسواك ښه پاك مینځه

دوخت تابع جمله دمستقلی جملی په منځ کښی هم راتلای شي:

مثلا: په ژمي چه هواسړه شی هر څوك وړین کالی یا تاوده پوستینو نه اغوندی

که تابع جمله دمستقلی جملی نه مخ کښی راځی نو هغه وخت (چه) دمسند علیه وروسته ځای نیسی

مثلا: احمد او محمود چه کورته ورسېدل باران شروع شو. (چه) دجملی په سر کښی هم هم ځای نیولای شی مګر دا په مخاطب او متن پوری اړه لري.

مثلا: چه زه هلته وم نو ورور دی هاله راغلی نه وه.

دوخت دتابع جملی په سر کښی دالاندی مرکب قیود مستعمل دی: تر څو چه، تر څو پوری چه، له هغه وخته څخه چه، هغه وخت چه، کوم وخت چه، کله چه.

۶: مرکبی جملی چه دځای او ظرف او اشاری تابع جملی لری

دځای او ظرف تابع جملې دځای او ظرف دخپور شوی قیو. دورول او بوی او اشاره کوی چه هغه فعالیت او عمل چه دمستقلی جملی مسند افاده کوی چېری، به کم ځای کښی او وکمې خوا ته کېږی عموماً هغه دلاندی پوښتنې ځواب را کوی: چېری؟ له کمه؟

مثلا: باچا هغه سالون ته لاړ چېرته چه توتې جوړېدلی

۷: مرکبی جملی چه دمقصد تابع جملی لری

دمقصد تابع جمله اشاره کوی چه هغه فعالیت او عمل چه دهغه په باره کښی په مستقله جمله کښی ویل کېږی دڅه دپاره او څله کېږی:

دمقصد تابع جملې دلاندنیو پوښتنو ځواب را کوی څله؟ دڅه دپاره؟

دمقصد تابع جملې دمستقلی جملې په مسند پوری د(چه) په وسیله تړل کېدای شی

مثلا: بازار ته ځم چه مېوی را نیسم

چپراسی په دروازه کښی کښېنوم چه بی اجازی به څرك نه راځی.

دمقصد تابع جمله دمستقلی جملی په مسند پوری د(څو) په وسیله تړل کېدای شی

مثلا: بهتره ده ماهم مړه کړی څو ددی مفلوك ژوند څخه نجاب ومومم.

دمقصد تابع جمله دمستقلی جملې په منځ کښې راتلای شي او په دی حال کښی د تابع جملی په سر کښی (ددی دپاره چه) راځی.

مثلا: په هر هېواد کښی ددی دپاره چه خلك مېله وکی یو مخصوص ځای ټاکل شوی وی هر سړی ددې دپاره چه خپل ځان او خپل اولاد ته ډوډۍ پیدا کړی او ښه شان ئی وساتی کسب او کار ته اړدی

دمقصد تابع جمله دمستقلی جملی څخه مخ کښی راتلای شی نو هغه وخت عموماً د تابع جملی په شروع کښی (ددی دپاره چه) راځی.

مثلا: ددی دپاره چه په امتحان کښی کامیاب شو مونږ باید ډېر سبق ووایو

۸: مرکبی جملی چه دعلت تابع جمله لری

دعلت تابع جمله اشاره او ښکاره کوی چه هغه فعالیت او عمل چه په مستقله جمله کښی دهغه په باره کښی خبر را کول کېږی ولی او دڅه شی په سبب وشو یا کېږی او یا وبه شی.

دعلت تابع جمله د(ولی) او (دڅه شی په سبب) دپښتنو ځواب را کوی .

دعلت تابع جملهٔ دمستقلی جملی په مسند پوری د(ځکه چه) په وسیله تړل کیدای شی

مثلاً : دجرابو سره مه بیدیږه ځکه چه جرابی په خوب کښی دوینو دوران په پښو کښی ښه نه پریږدی.

دعلت تابع جلمه دمستقلی جملی په خبر پوری د (ولی چه) په ذریعه هم تړل کیدای شی

مثلاً : مگر په سبق کښی گل بشره تر تیره وه ولی چه هغه تر ده دمخه را پر سبق کښینستلی وه

دعلت تابع جمله د مستقلی جملی په خبر پوری د(چه) په وسیله هم تړل کیږی .

مثلاً : ناری می ژر را که چه ښوو نځی ته ځم .

دعلت تابع جمله دمستقلی جملی په مسند پوری په (څه رنگه چه) تړل کیدای شی او نور

۹: مرکبی جملی چه دشرایطو تابع جمله لری

دشرایطو تابع جملی هغه شرط ته اشاره کوی چه دهغه په موجودیت په هغه خبره کیدای شی یا و به شی چه د هغی په باره کښی په مستقله جمله کښی ویل کیږی

دشرایطو دتابع جملی په سر کښی (که) یا (که چیری) او په مستقله جمله کښی (نو) راځی که هغه شرط چه د طابع جملی څخه ښکاره کیږی پر ځای کیدای شی یعنی حقیقی دی نو

په تابع جمله کښی دفعل مطلق حال راځی

مثلاً : که سبارا شی نو مونږ به سینما ته ولاړ شو

که چیری مقاومت و نه کړای شی نو خپلی وسلی دی خرابی کړی

که هغه شرط چه به تابع جمله کښی شته په ماضی حال کښی احتمالی دی او پر ځای کیدای شوای نو په تابع جمله کښی قریبه ماضی راځی مگر د(دی) او (دی) پر ځای وی) استعمالیږی.

مثلاً : که چا دغه میوه په خپل اصلی حال لیدلی وی نو هغو ته به داهم ښکاره شوی وی چه ..

که تاسی دپښتو کلی تیر جلدونه په غور لوستلی وی نو باید په پښتو لنډ لنډ مکتوبونه ولیکلای شی که هغه شرط چه له تابع جملی نه ښکاره کیږی غیر حقیقی دی او پر ځای کیدای نه شی نو په تابع جمله کښی تمنائی او شرطی (ماضی) مود (mood) راځی او په مستقله جمله کښی یا ماضی یا تمنائی او شرطی ماضی د(به) سره راځی .

مثلاً : که تاسی مسواك وهلای غاښونه به دی سپین و

که تاسی و یلی وای ما به کتاب راوړی و اوداسی نور

دشرایطو دتابع جملی یوبل شکل هم شته لکه (که تاسی په چاپسی په ناحقه تورو تاړه په تاسی پسی هم تور تړل کیږی).

۱۰ :- مرکبی جملی چه دگذشت تابع جمله لری .

دگذشت تابع جلمی وهغو فعالیتو او پېښو ته اشاره کوی چه دمستقلی جملی دمطلبت سره مخالفت کوی اوسره له هغه دپرځای لېدلو ئی مخه نه نیسی.

دگذشت دتابع خملی په سر کښی دا لاندی مرکب حرف ربطونه راځی : که څه هم، سره له دی چه دمستقلی جملی په شروع کښی لکین ؛ مگر، بیا هم خو بیاهم، خو، لیکن بیاهم، سره ددی، ویل کېږی.

مثلاً : که څه هم کتاب لانیمگړی او ډېر ضروری مطالب پکښی پاته دی سره ددی دلیکونکی توجه دی مطلب ته دډېری ستاینی وړده.

که څه هم رونمالیږ شوه لیکن بیاهم لارښه معلومېږی

داسی کېدای شی چه دگذشت دتابع جملی په سر کښی حرف ربط نه وی.

مثلاً : لاتر اوسدمی دزلمیتوب یوه آرزو هم نه ده دسره شوی خو بیاهم دخپلی ځوانی توله مستی او آرزو گانی ستادپاره قربانوم

۱۱ :- مرکبی جملی چه دنتیجی او اثر تابع جلمه لری

دنتیجی او اثر تابع جملی دهغه خبر نتیجه او اثر اظهاروی چه دمستقلی جملی نه معلومېږی دنتیجی او اثر تابع جملی د مستقلی جملی نه مخ کښی ځای نپولای شی او په سر کښی ئی (څه رنگه چه) راځی .

مثلاً : څه رنگه چه په پراگ دفرانسی نظامی اتاشه او دهغه معاون په حکوسلوا کیا کښی جاسوسی کوی باید دفرانسی حکومت په ۱۲ ساعتو کښی دغه نفری دچکو سلوا کیا دخاوری څخه خارج کړی (اصلاح نه اقتباس)

د ویلو وړ خبره داده چه په مستقله جمله کښی (نو، او نو ځکه) راتلای شی .

دنتیجی او اثر دتابع جملی په سر کښی هم (هر کله چه) ویل کېدای شی او تابع جمله دمستقلی جملی نه مخ کښی ځای نیسی او په سر کښی ئی عموماً (نو ځکه) راځی.

مثلاً : هر کله چه د کابل دولایت زیاتره ځمکی ددریاب اوسیند له مخه څخه ډېر لوړی دی او دغرو زیاتی لری یورا څرخېدلی دی نو ځکه دزیاتره ځایو هوائی لکه (هزار دجات، غزنی او نورو) په ژمی کښی ډېره سړه وی او په اوړی کښی ډېره توده وی. *

نوی دنیا

په زړه کښې سوز ستر گو کښې نم غواړم
د مینی خوږ او شیرین غم غواړم

چه یو ځل ځان او خپل جهان و وینم
کې را کوی! یو جام د جم غواړم

دا عام کرم خو دی بې سواله مومم
خو زه ئې خاص غوندی کرم غواړی

د تورو زلفو په خوشبو معطر
هسی نسیم د صبحدم غواړم

د بیش و کم له جهان لیری لیری
نوی دنیا ښکلی عالم غواړم

---

*د نتیجی او اثر د تابع جملی په سر کښی حرف ربط (ځکه) راځی او تابع جمله د مستقلی جملی پسی ځای نیسی.

مثلاً هغه شراب څکلی دی ځکه په هوش کښی نه دی.

۱۲ -: مرکبی جملی چه تشبیی او مقدار تابع جمله لری

د تشبیی او مقدار تابع جملی د فعالیت د تشبیی 'مقدار' قوت او برابروالی له حیثه تعریف کوی

مثلاً: دوی ځانونه داسی ښیی لکه چه د علم او عقل او تجاربو سرمایه داران همدوی وی او دنیا د دوی په ښکرولاړه او په دوی و دانه وی.

څو مره چه عمر زیاتیږی هغومره د سړی تجربه هم زیاتیږی.

څنګه چه یو عکاس د خپلی ښی کمری او ښو آلاتو او لوازمو په اثر کښی ښه فلم او ښه عکس اخستی شی د غسی یو لیکونکی او ادیب هم د خپلو حواسو د دقیق او عمیق احساس په اثر کښی د دنیا له امورو او واقعاتو څخه ښه اقتباس کوی.

پاته افسانی

زړه کښې مې ډېری وسوسې پاتې شوې
اشنا ! له تا نه مې گیلی پاتې شوې

* * *

د زړگی مینه خدای خبر څه شو له
په ځای مې ټولی ارادې پاتې شوې

* * *

چه په تلاش کښې به هر وخت گرزېدې
سترگی مې دواړه نن ړندې پاتې شوې

* * *

په ځائې داو ښکو چه لهٔ سترگو به تلې
وینې رگونو کښې سړې پاتې شوی

* * *

د خمارو سترگو نشې لاړې
ساقی ته بسې دی میخانی پاتې شوې

* * *

شمعی ! بې ځایه بلیدنې پریږده
ستا له طرفه پروانې پاتې شوې

* * *

د چمن گله ته تر اوسه ځاندې ؟
ستا د بلبل نه خو نغمی پاتې شوې

* * *

د چا سره د رازو نیاز خبری
اف ! خلقه ټولی افسانی پاتې شوی

«سیلاب» صافی

د کامې نه

خپل قلم ته

ادبی

پریشانی

آی زما قلمه !!!...

ته ما ته دومره گران ئی چه دهغی اندازه له کچ او انچ وفوټ څخه ډیره لړی ده ... او بیا په دی باورو که لکه څنگه چه ما کله په تاباندی بل چا ته چاپلوسی، غوړه مالی او ډیر تیټ وپاس ندی کړی نو همدارنگه تا ته هم دروغ او درب او داصل حقیقت څخه یو بحژ کی کم او زیات نه وایم.

نو آی زما گرانه !... قلمه! ... ستا دپاکی او نیغی نو کی سره چه زه کومه علاقه لرم نو هغه خو یو ما ته او بل خاص تا ته ښکاره او معلومه ده. او دا خو دی هم یاد دی چه، کله، له تا نه د سپینو او سرو حساب هم ندی غوښتی ځکه هغه علت خو هم تا ته له ما نه ډیر واضح او ښکاره دی.

بلکه لتا نه می کله د ظلم او تجاوز د اظهار او یا د ظالم د بدی او غرور د صفت امید ندی کړی تا نه می د غیبت او یا نوری پس فطرتی کوم خواست هم ندی کړی او نه می د کوم ناروا او غلط مرام بلکه د اخلاقو د عمومی کنترول نه بیرون د کومی ارزو په نسبت هم له تا څخه څه امید اریا په تاباندی تکلیف او تکلف بارولو ته کوم خیال ندی ساتلی. زه خو په دی ډیر افتخار لرم چه تا ته خجالت نه یم او شاید چه ته هم په دی سلسله کښی د خپلو ملگرو او هم مسلکو څخه دیو فوق العاده امتیاز خاوند او ارزومن اوسی.

نو آی !... د زړه همرازه !... اگرچه ستا ژبی دوه دی خو بیا هم چه څوك دی مجبور نکړی تو ته هیڅکله د دویمی ژبی څخه کار نه اخلی که ما در باندی کله د مشرانو احترام او د دی حقو اداب او ادا او ورسره ورسره داشنا د ډیرو غمونو اندی او مسلسل شکایتونه، رنگارنگ دردیدلی او غمگینی ډرامی، د بیلتون د خو نخوار ښا مار له ډیرو درد یدلو او کړیدلو څخه ډیر زگیروی او نالشونه، بلکه د هجران په بلولمبو کی د ډیرو درد یدلو او کړیدلو څخه وروسته کله نا کله داشنا په نوم د گیلو، گذارو چټی گانی او د زړه د سوز کو کاری بار کړی هم دی، بلکه په هم هغه وخت کی چه به حوصلی له ووتلی نو تا خو هلته له ما نه لس چنده ژړا کړیده او زما سره دی په دی کړاو کی بړاوونه لاری او لوړی ژوری لټو لی دی.

خو بیاهم ته ماته زماله هغه دوست څخه هیڅ کم نه ئی کوم ته چه زه نن ستا په واسطه خپل د ډیریټ رازوړاندی کول او ښکاره کول غواړم .. هو دادی هم درته یادوی چه زه بی له تا نه بل ملګری، همراز او دمنزل مقصود په لوری درسېدو په کش مکش او غورزو پرزو کی بل نفر همکار، همفکر اولار ښوونکی نلرم او که ئی ولرم نو ته په دی پوره باور و که چه هغه به نه وی مګر ته او بس ... نو داخل . ز تا ته بیاهم دخپل زړه دخزانی څخه دخپلو امیدونو کړکی بېرته کوم دارزو ګانو دصندوق کلپ ماتوم او بیا درته بو خڅکی پرانېزم... راشه !. ! چه اول درته دخپل زړ ګوتی حال ووایم چه په سروو ښو کی شټېږی او غوپی وهی. دده ناارامی و ګوره چه ورت پریت پروت دی او دسبزی باد پکی مې ورته چالان کړېدی. دپښو د پایکوب تکول خوئی لاپخوانی عادت ووخواوس دپېریانی په شان تریکی اولغتکی هم وهی، په ګونګه زبه اشنا اشنا اشاری کوی او یوه شېبه ارام او او سکون نلری.

په هیڅ چاره ئی نپوهېږم، په ډېرو زیارتو نوئی ستړی کړم ډېر چوف او کوف یوزی ته راوستی یم. په نجومیانو می فالونه و کتل، په دمګرو او پاړو ګرومی هیڅ کمی و نکړو په ناصحانو خودی یو ځلی داسی رابرګ شی چه دهغوی څخه دتېښتی لارو رکه کړی.

وایم چه مالیدلی دی نو تراوسه پورې ئی ستر که په ستر که نده وروستی شپه او ورځ بېدار ناکرار او په اخ او ډب بوخت دی. دوجود وینه څکی خو بیاهم دده دډېری ناارامی اوز ګېروی نه دوجود ټول حرکات او سکنات ګډو ډدی. دما شوم نه ډېر بوالهوس بلکه بی ثباتی ئی دی اندازی ته رسیدلی دچه دده له لاسه هره شېبه ټول وجود نوی درد حس کوی.

دالا څه کوی غوز کېږ د . چه د عقل او فکر، خیال او تصور پاڼه درته واړوم. واوره!

که فکر بند په زلو نو کړم * چه رانه خلاص شی بربرا اشنا ته ځینه !

دخیال مرد کی خوله بادنه په پوره فاصله خپل هدف ته مخکی رسید ونکی دی . او دتصور نیلی چه یو ځل زېن شی نو که دعقل شپږ سوه قېزې په خوله ورنباسی نو بیا هم دشپی دتېرېدو رباط ته دی له پېری نه ډېر وړاندی خپله مرچل نېسی . د دوی په حق کی به خلص دومره درته ښکاره کړی شم چه ددی ګروب عمومی قوماندان ښاغلی مارشال عشق دوی ته دمېنی او محبت په عالی پوهنتون کې دډېر جرئت او عالی همت اعلی بری لېکونه په خپله امضاء ور کړېدې حتی دالمپیک په لوبو کی چه دوی دمنډی او چالاکی مسابقه ددنیا په هر ګوټ کی دچاسره کړېده نو په کراتو کراتو ئی دقهرمانی نشانونه په نصیب شوېدی. بس نو ددوی مخ نېوی خو به اوس تا ته هم ښکاره شوی وی چه په غېر دوصال له پهلوان څخه دبل چا په واسطه امکان نلری.

هو.. گرانه قلمه !!! ... یوه کوم بله رایاده شی لاچه دستر گو حال می و گوری بس دوی خود زړه سره دژړاتیکه کړیده.

وایم چه زړه څوځان خوځوی نو دوی بیا په شیبو شیبو راوریدلی وی ،

ستر گومی می زړه ته نقصان پیښ که ! * نور به ئی دباز په شانته پټی گرزومه!

بلکه دوی هم خپله رمزی شعاع دتصور او خیال په رکاب کی داشنا دناز او خندادمو کب سره بدر که کړیده او دبرندو ستر گو په انتظار کی ۲٤ ساعته دوی هم و ازی ختلی دی.

بله واوره ! ... خولی اوژبی هم سره سلا کړیده چه نور څه ویل په کار ندی مونږ باید تل گونگ اوچوپ ووسو او بیا هم که چا مجبور کړو نو همدا یوه کلمه باید دهر سوال اوځواب په مقابل کی کفایت و کړی او فقط اشنا اشنا تکرار ول کافی دی. بلی...

دغوږو نو به درته څه ووایم... هغه متل دی (دوږی دغوږه دډوی تپار دی) دوی خو دژوندون او په مدوجذر کی هیڅ کارنلری اونه د کرم کار اوریدو او خبریدو ته کوم خیال ساتی او که څوك پری څه اوریدل اویا کوم ربوټ ورته رسول غواړی نو هغه هم باید خاص دمینی او محبت له استیشن څخه فقط دسودا دخبرو ړونکی اژانس په واسطه وشی او دنور وجر گو مر کو دخبر رسولو سرداری و نکړی.

پښی به می لاڅنگه شی هغه خروائی چه: چیرته زړه ځی هلته پښی ځی او که څوك ئی کوم ېل طرف ته تگ غواړی نو چه نن نه گوډیږی نو کله به وی؟ خیر..

نو ای زما دژوند بانی او مؤسسه قلمه !!! نوره ستا خوښه ده چه زما دغه در دوونکی پیغام. دارزو گانو دغه رساله او یا په بل عبارت دغمو نو دمارانو څخه ډك شوې پیټار گی کله داشنا په مخ کی بیرته کوی چه دیو څو دقیقو لپاره ئی دغه دلخراشی تنداری ته هم نظر جلب شی او څه ناڅه دخپل بندی حال دهجران په تورو تنبو کی و گوری ... گوندی لږ څه ئی په زړه درحم او به توی ښی او ... !!! ...

قلم په لاس کی فکر یو وړم — چه بی وفا اشنا ته څه شی ولیکمه!
قلم په لاس کاغذ ته گورم — اشنا می یاد شورانه هیر شو تقریرونه!
قلم به مات گوتې به پری کړم — کاغذه تا که اشنا ونه ژړاونه !
قلم ته گوتی په ژړا شوی — خط به باقی وی مونږ به توری خاوری شونه!
قلمه! دادی مبارک شه : — چه داشنا سلام په تا باندی لیکمه!
قلم کاغذ ته په ژړا شو — چه زه شوم پاتی ته به وکړی دیدونه
قلمه! بس کړه وړاندی مه څه — نه پوره کیږی دزخمی زړگی عرضونه!

خط مې کاوه قلم مې مات شو
داشنا نوم رانه نیمکړی باتی شونه

حسن « سایی »

د تاریخ ارتباط او مناسبات له نورو علومو سره

تاریخ دبوحامی اومرستیال په حیث له ټولو طبیعی او اجتماعی علومو او حتی له فلسفې سره او دیو علم په حیث له ځینو علومو سره یوجانبه اوله ځینو نورو علومو سره متقابله ټینګ روابط او مناسقات لری. پدې ډول چه ځینی علوم د خپلو څېړنو د بشپړ کولو او پخپله ساحه کښې د نورو مطالعاتو او تحقیقاتو دپاره له تاریخ نه مرسته کوی چه دادی په لاندې ډول اومری هغه علوم چه له تاریخ سره مرسته کوی اوه هغه متمم اومکمل علوم ګڼل کیږی ترمختصر بحث لاندې نیسو او وریسې هغه علوم چه له تاریخ نه مرسته غواړی لږ او ډېر پرې بحث کوو :

الف : هغه علوم چه له تاریخ سره مرسته کوی دادی :

۱- ارکیالوجی (لرغون پوهنه)

ارکیالوجی داسې یوه پوهنه ده چه دیوځانله اصول په مرسته دبشرماضیه پاته شوی آثار (په تېره بیا مادی اثار) د کیندنې او پلټنې په وسیله کشفوی او بیا حتی الامکان دهغو مبداء اومنشاء عصر اوزمان او حتی نېټه ورتاکی.

د ارکیالوجی دغه زیار اوهدف ترهر بل علم نه زیات دتاریخ دتدوین او ترکیب په لیار کښې کتنه او اهمیت لری. ځکه تاریخ بې له وثائقو او اسنادو دومره ارزښت نلری اوبې له هغونه نه شی تدوین او ترکیب کیدای او دغه وثائق او اسناد چه تاریخ په هغو ډېره اتکاء اواستناد کوی دارکیالوجی له خوا ورته تهیه کیږی.

« ارکیالوجی داسې یوعلم دی چه تاریخ ته ئې ژوند بخښلی اوهغه ئې د مختلفو طبائعو مقبول او په زړه پورې کړزولی او تاریخ ئې د رومان او افسانې له شکل نه ویستلی دی. »

د کښل شویو (محکوکات) او لیکل شویو وثائقو او اسنادو د تدقیق او اوستنې دپاره تاریخ له یو لړ نورو پوهنو اوعلوموڅخه هم مرسته غواړی لکه :

پلیو ګرافی Peleogr daphy

دیلوماتیکس Diplomatics

اپیی ګرافی Epgraphy

سفراجستیك Sphragistic

بالسن Balsom

چه ددغو تولو پوهنو شرح دمخه دتاریخی وثائقو دتحلیل او انتقادیه بحث کې راغلې ده دغه پورتنۍ پوهنې توله دار کیالوجی مکملې او متممې او یا دار کیالوجی په شمول د تاریخ مرستیالې پوهنې دی .

۲- متودولوجی (د اصولو علم یا تطبیقی منطق) دا هغه پوهنه ده چه انسان ته د ژوندانه په تولو چارو کښې د صحیح تفکر لاری چارې ورزده کوی او د انسان تفکر له خطانه ژغوری او په ده لویو برخو وپشل کیږی لکه صوری منطق او تطبیقی منطق دغه علم زیاتر باسی چه دعقلی پرنسیپونو په اساس خصوصاً دهر علم دپاره د تدقیق او تحقیق اومطالعې اصول وضع او تاسیس کړی . او نه یوازې تاریخ بلکه هرعلم دخپل واقعی هدف او مطلب ته د رسیدو دپاره چه کومې لنډې او صحیح لیارې ته ضرورت احساس کوی هغه ورته متودولوژی پرانیزی .

نو بنا پدې د متودولوژی دواړې څانګې د تاریخی وثائقو د تحلیل او انتقاد او د تاریخ دتر کیب او انشاء دپاره یو قانونی اصول وضع کوی اولدې لیارې نه د تاریخ سره د قدرور مرسته کوی .

۳- پلی انتولوجی (دفوسیل علم)

هغه علم دی چه دپخوانیو نباتاتو او حیواناتو پاته شوی اثار چه د فوسیل په نامه یادیږی تر مطالعې اوڅېړنې لاندې نیسی او دهغه عصر او زمان تاکی او د هغو د ژوندانه څرنګوالی هم ترې راوباسی .

دغه علم هم دار کیالوجی یو مکمل اومتمم علم دی او زیاتره له تاریخ طبیعی سره مرسته کوی ځکه هغه وثائق چه خصوصاً طبیعی تاریخ هغوته ضرورت لری د دغه علم (پلی انتولوجی) له خوا ورته تهیه کیږی .

مثلاً کله چه یو مورخ دیوې تاکلی دورې دحیواناتو او نباتاتو دڅرنګوالی په باره کښې یو تاریخ تدوین کوی نو مورخ مجبور دی چه له پلی انتولوجی څخه مرسته وغواړی

٤- آنتروپولوجی (خلك پیژندونکی) هغه علم دی چه دتاریخ په مختلفو دورو کښې د بشر دتفکر او ژوندانه طرزاو دهغو ترل روحی تظاهرات مثلاً روایات ، عنعنات ، افسانې ، دودونه رسوم اوعادات اوپه عمومی ډول (فولکلور (Folklore) تدقیق او

مطالعه کوی چه د آنتروپولوجی دغه زیارونه او کوششونه له بو خوا د تاریخ او له بلې خوا دعلم الاجتماع (سوسیولوژی) په کتنه تمامیږی .

په خاص ډول : آنتروپولوجی تاریخ ته روحی او معنوی اسناد او وثائق تهیه کوی .

٥ـ اتنولوجي (Ethnology د نژادونو علم) هغه علم دی چه په مختلفو دور و کښې د بشری نژادونو روحی تظاهرات (خصوصاً صوری او معنوی صنائع او بدنی کیفیات لکه (جمجمه، اسکلیت) او نور نژادی خصوصیات مطالعه کوي .

څرنګه چه په فردی لحاظ هر انسان او په خصوصی ډول هر نژاد دوه خواوی لری لکه جسمی او روحی یو نژاد اویا انسان هم هغه وخت ښه پیژندل کیدای شی چه دهغه دواړه خواوی (جسمی او روحی) مطالعه کړی شی نو اتنولوجی له یوې خوا دیو تیرشوی انسان اویا یو نژاد د جسمی تحقیق دپاره پلی انتولوجی ته اړه لری او له بلې خوا دهغو د روحی اومعنوی تظاهراتو دښه تحقیق دپاره له انتروپولوجی نه مرسته غواړی او پخپله اتنولوجی زیاتره د یو ژوندی انسان اوموجود نژادجمجمه، رنګ اوپوست قد او اندام او وینه هم تر مطالعې لاندې نیسی چه اتنولوجی د خپلو مرستیالوعلومو په کډه تاریخ ته د نژادونو د مختلفو دورو دتولو خصوصیاتو په متعلق حقائق او اسناد ور تهیه کوی .

٦ـ استاتیك (احصائیه :) احصائیه هغه پوهنه ده چه د بشری ټولنو د اقتصادی او اجتماعی او نورو ټولو معاملاتو شمېر او اندازه له مختلفو منابعو نه پلاس راوړی او ثبتوی ئې او بیا له ثبت کړی شوی شمېرنه نتیجه اخلی او په دغو ټولو معاملاتو لازمه حکمونه او حسابی حکمیتونه د فیصدی په قرار صادروی مثلاً :

بو سړی کوری چه په یو ښار کښې څومره غلاوی کیږی د غلا ټولې بیښې په شمېر کښې ثبتوی . او په دغه لړ کښې دغلو سوانح او د ژوندانه حالات او کوم تحقیقات چه له ده څخه شوی هغه ټول مطالعه کوی . بیا نودی د خپلو څېړنو او مطالعاتو په آخر کښې کوری چه په ساو غلاو کښې څو غلاوې د فقر او څو غلاوې دخرابی تربیې او څو غلاوی د کوم بل علت پر اثر شویدی ورو سته بیادی حکم کولای شی چه جامعه په کوم حالت کښې واقع ده آیا په اقتصادی بحران لناره ده او که په کوم بل مرض؟!

نو تاریخ لپاره ددې چه دیوولس په اخلاقي، تجارتي اقتصادی، سیاسی او اجتماعی معاملاتو کښې له تخمین او تقریب نه و ژغورل شی او بیا صحیح او حسابی

حکمونه صادر کړی او بوه سمه نتیجه پلاس راوړی نو احصائیې ته سخته اړه لری .

نه یواځی تاریخ بلکه زیاتره علوم خصوصاً اجتماعی او معنوی عملوم لکه روحیات ، اجتماعیات ، اخلاقیات ، اقتصاد او نور له احصائیې نه نشی مستغنی کیدای .

۷- ادبیات : هغه پوهنه ده چه دیوې ځانله ژبی د نظم او نثر ټول کم او کیف تدقیق او مطالعه کوی .

یو مورخ د تاریخ د تدوین او تحلیل او خصوصاً د تاریخ د ترکیب او انشاء په لیار کښې په تېره بیا دلیکل شویو وثائقو لکه (کتیبی ، دیوانونه او نثرونه او نور کتابونه . .)

د تدقیق او صحیح تعبیر د پاره د ادبی پوهنو زده کړې ته سخت نیازمند دی .

ځینی پوهان عقیده لری چه که څوك دیوولس په ژبه او دهغې په ادبی خصوصیاتو باندی نپوهیږی د علم په دنیا کښی حق نلری چه د هغه ولس تاریخ ولیکی . دا هم باید وویل شی چه د تاریخ او ادبیاتو ترمنځ مناسبات یوجانبه نه بلکه متقابله دی . په هغه اندازه چه تاریخ ته محتاج دی ځکه ادبیات داسی یوه پوهنه ده چه د زمان او مکان په بدلید و تغییر او تحول سیر او دهری دورې ادبی خصوصیات ښکاره نکړی نو د ادبی پوهنو موجودیت او تشکل به لږ غوندې گران ؤ .

په همدی ډول له فیلالوژی سره هم د ادبیاتو روابط او مناسبات متقابله دی .

۸- جغرافیه : « دویدل دی لابلاش Viddal de lablas فرانسوی نومیالی منجم او جغرافیه پوهاند په قول چه وائی : جغرافیه د مځکې د کړی د مختلفو محیطونو مدلل معرفت دی

په بل عبارت جغرافیه هغه پوهنه ده چه د مځکی ټول داخلی او باندنی حالات او حادثات بیانوی او هغه عناصر او عوامل چه پر مځکه متقابله اثرلری لکه ، او به هوا ، انسان او نور تر بحث لاندی وېشل کېږی لکه طبیعی جغرافیه ، بشری جغرافیه ، اقتصادی جغرافیه ، سرحدی جغرافیه ، ښاری جغرافیه او سیاسی جغرافیه او نور هغه حالات او موضوعات او پیښی چه د تاریخ د بحث موضوع گرزی په هر شکل چه دی نو هر و مرو په یوه جغرافیائی ساحه او موقعیت کښې صورت نیسی .

څرنگه چه تاریخ د یوی حادثی او یا د یو حال د بشپړ ایضاح د پاره مجبور دی چه د هغې حادثی ځای او جغرافیائی محیط او موقعیت او د هغه شرائط هم ښکاره کړی نو تاریخ خپل دغه احتیاج د جغرافیی په مرسته لیری کوی او دا هم باید وویل شی چه د تاریخ او جغرافیی ترمنځه مناسبات او روابط یوجانبه نه بلکه متقابله دی تر کومی اندازی چه تاریخ له جغرافیی نه مرسته غواړی په هماغه اندازه جغرافیه هم د جغرافیائی شرائطو

دتغییر اوتحول دسیر په مورد کښې تاریخ ته اړه لري او همداشي چه دجغرافیې کوششونه دتاریخ په گټه تمامیږي په همدې ډول دتاریخ کوششونه هم په تیره بیا سیاسي اوسرحدي اوښاري جغرافیې ته پوره پوره گټه رسوي .

او ترکومي اندازي چه جغرافیائي پوهنې دمورخ دپاره ضروردي په هماغه اندازه تاریخي پوهنې هم یوجغرافیې پوهاند ته لازم دي .

دهرودوت اوبطلیموس کوششونه اوزیارونه ترکومي اندازي پوري چه دجغرافیې په گټه تمام شوي په هماغه اندازه هم تاریخ ته مفید ثابت شویدي ځینې وائي چه هرووت زیاتره یوجغرافیه پوهاندؤ نه مورخ اوبیا ځینې ادعا کوي چه هرووت زیاتره یومؤرخ ؤنه جغرافیه پوهاند اوبیا ځینې نورعقیده لري چه هرووت هم مورخ اوهم جغرافیه پوهاندؤ له پورته بیاناتونه داڅرگندیږي چه تاریخ اوجغرافیه دواړه سره یودبل لازم اوملزوم دي

بهرحال دجغرافیې په ټولو څانگو کښې هغه څانگې چه له تاریخ سره زیات متقابله مرستې کوي هغه بشري سیاسي اواقتصادي جغرافیه ده .

داؤد تاریخ معاونه اومرستیال علوم چه پورته په ډېر مختصر ډول وښودل شواوس به راشو هغه علوم به تریولنډ بحث لاندي ونیسو کوم چه دتاریخ مرستې ته محتاج دي .

ب: هغه چه له تاریخ نه مرستې غواړي :

۱ سوسیولوژي (علم الاجتماع)

داهغه علم دي چه اجتماعي موسسات اودهغو تحولات تر بحث لاندې نیسي اجتماعي موسسات دا دي :

وینې موسسات . اخلاقي مؤسسات ،حقوقي موسسات اقتصادي موسسات لساني موسسات اوبدیعي موسسات:

دغه ټول موسسات چه په مجرداو غیرشخصي ډول دیوي جامعي په افرادو حکومت چلوي دعلم الاجتماع دبحث اوڅیړینې اساسي موضوعات اومفردات دي .

څرنگه چه تاریخ دانسانانومعشري او اجتماعي تصورات اوافعال، عقاید اوطرز تفکر او دژوندانه سبك اودنورو اجتماعي موسساتومنشاء اومبداء اودهغو دتحول سیر اونور کیفیات ئي چه په ماضي اړه ئي ښکاره کوي نو پدي وسیله دسوسیولوژي دپاره دبحث مورد په لاس ورکوي اوسوسیولوژي د اجتماعي موسساتورسمي او صحیح پیږندي او دهغو دتحلیل دپاره مجبوردي چه تر هر څه دمخه د اجتماعي موسساتومنشاء

اومبداء اودهغودتحولاتو سیرمعلوم کړي چه داکاربی دتاریخ له مرستی نه نشی کولای ،
« ځینې پوهان عقیده ای چه سوسیولوژی دتاریخ پوه څانګه او خصوصاً له تاریخ له فلسفی
نه منځ ته راغلی دی » مثلا دور کهایم وائی : « سوسیولوژی د خپلې یوی لوئی
برخی په اعتبار یوډول تاریخ دی چه په یومخصوص صورت سره پوهیدل شوی دی . »

ځینې علوم چه دتاریخ متممه او مکمله علوم دی هغه دسوسیولوژی معاونه او مرستیال
علوم هم دي لکه انتروپولوجی استاتیک (احصائیه) اتنولوجی او نور او
سوسیولوژی زیار باسی چه په اجتماعي حادثاتو کښی د علت او معلول سلسه
ښکاره کړی او کوشش کوی چه وپوهیږی چه یوه حادثه او یا یوه اجتماعي موسسه
د کوم علت په اثر منځ ته راځی چه داکاربی دمقایسوی تاریخ له مرستی نه نشی کولای
ځکه داجتماع دتدقیق موضوعات زیاتره هغه حادثات وی چه فعلا موجود نه وی
او لکه چه په سوسیولوژی کښی یوه فرضیه وضع کیږی دهغو دتحقیق د پاره تاریخی
مثالونو ته مراجعه کوی او وروسته له څو تاریخی مثالونو نه د بحث لاندی حادثه
له هغو سره مقایسه کوی او که فرضیه محققه ثابته شوه نو یوه کلیه منځ ته راځی
او که نه نو فرضیه غلط ده

« سیوسولوژی زیاتره سیاسی ، مذهبی ، روحی ، فلسفی تاریخی او نور په دولتونو
او ملتونو او حکومتونو پوری مربوط موضوعات تر بحث او څیړنی لاندی نیسی نه
حقیقی اجتماعی موضوعات »

(۲) سیاسی او حقوقی علوم

دحقوق له متخصصینو نه یو تن وائی : دا وسنی عصر دحقوق پوهان دی نتیجی
ته رسیدلی دی چه حقوق بعضاً د تاریخ له څانګونه یوه څانګه ده او باید چه حقوق
دتاریخ له روح او د هغه دډنیا میزم له سیر سره مطالعه کړی شی . دتاریخ اهمیت
اورابطه هغه وخت پوره څرګندیږی چه دحقوقو په تیره بیا دبین الدول دعمومی حقوقو
په متعلق په پراخه مطالعه لګیا شو . »

یو بل حقوق پوهاند وائی : « که څه هم چه استفاده له تاریخ نه د هر وخت دپاره
اهمیت لری خو دبین المللی حقوقو دزده کړې دپاره یو حتمی او ضروری امر دی »
« دتاریخ اهمیت نه یواځې د بین الدول په حقوقو کښې څرګند دی بلکه له ټولو

عملی مطالبو سره مستقیم روابط لری اوپه ټېره بیا ددیپلوماسۍ له رشتې سره یوه نه شلیدونکې رابطه لری مثلاً سیاسی اسناد او ددولتونو دسفیرانو او نمایندگانو ریپورتونه دامورو په جریان کښې چه ټول په تاریخی اسنادو اوشواهدو مستند دی زمونږ دمدعا دپرښه شاهد دی اولدې کبله ده چه تاریخی معلومات دټولوسیاسی نمایندگانو دپاره یولازمی اوحتمی امر پېژندل شوی دی.

اوهمدارنګه دمملکتونو دخارجی سیاست تحلیل بې د هغو د تاریخی جریان نه نشی پوهېدل کېدای »

« د سیاست علم دخپلو عمومی قوانینو او پرنسیپونو د کشفو او دپاره تاریخی حقائق په کاراچوی اودسیاسی ژوند دپرنسیپونو داستخراج په مقصد تاریخی حقائق انتخاب تحلیل او تنظیم کوی »

« دسیاست په علم کښې دآزموینی لپاره تاریخی طریقه ده په ټېره بیادسیاسی مسئلو دپوهېدنې دپاره لازمه ده چه د هغو اصل نمواوانکشاف مطالعه کړی شی.

تاریخ نه یوازې داچه سیاسی موسسات تشریح کوی بلکه مونږته دآینده استقراء د پلاس راوړلو په مورد کښې پوره پوره لارښوونه کوی »

دسیاست علم لکه څنګه چه موولیدل یوه نه شلیدونکی علاقه او ارتباط له تاریخ سره لری ځکه تاریخ سیاست نه خام مواد زرتهیه کوی »

« پدغه متعلق بوپیاوری انګلیسی لیکوال. شاعر اوسیاستمدار اومورخ «سرجان سیلی»

دسیاست اوتاریخ متقابله روابط په لاندې بیت کښې داسې خلاصه کوی !

History without Politicalseience has'no'fruit Political science without History has novoot

یعنی تاریخ بې له علم سیاست نه کوم ثمر لري او سیاست بې له تاریخ له کوم اساس ''»

۳ اقتصادی علوم :

« یوه غوره اومهمه مسأله چه نن ئی دبشر زیانه توجه ځانته جلب کړې هغه د اقتصاد اودهغه دتکامل دطرز موضوع ده. ځکه ښکاره ده چه سیاست او ټول بین المللی مناسبات داقتصاد او اقتصادی اوضاعو په محور څرخی. لپاره ددې چه دغه پوهنه په اساسی ډول مطالعه کړی شی نو داقتصادی تحول دمنشاء میندل په کاردی ' چه اقتصاد ددغه منظور دپاره مستقیماً له تاریخ نه مرسته غواړی »

« اقتصادي اوسیاسي دوکتورین چه مهمي اوستري نظر ئي په هره دوره کښې دد ولت دتشکیلاتو او دجمعیت د حیاتي شرائطو په باره کښې او دزراعتي اوصناعتي تولیداتو پوري مربوط مسائل دتجارت دتبادلوي انکشاف ، اعتبارات ، او نور مطالعه کوي نو تاریخ له دغو مسائلو سره مستقیم ارتباط لري اود هغو د علمي او فلسفي شرائطو مکمل کنل شوي دي »

« په همدي دول دحقوق عامه موضوعات ، حقوق اداره اود ممالکو ضعف او قوت اونور مسائل دتاریخ مطالعي ته ضرورت لري ارد هیڅ یو اداري او مالي تشکیلاتو او موسساتو د تدریجي انکشاف یوهید نه ئي دتاریخ او سیاسي اواجتماعي عواملو له مخې نشي لاس ته راتلای . »

« اود اساسي قانون پوهید نه هم بې دهغه دتاریخي سیر له مطالعي نه نشي مفهوم کېدای . ځکه سیاسي موسسات په آني او فوري دول او بې له کومې اوزدې سابقې او مقدمې نه منځ ته نه راځي ، په آخر کښې دنتیجې په توګه باید وو ایو چه دطبیعت او بشریت ټولي هغه چاري او یا ټول هغه طبیعي اوبشري حادثات اوسازمانونه او موسسات (په هر کله شکل چه وي) چه له ماضي نه منشاء نیسي اوله هغه نه ئي وده کړیده اود تغیر اوتحول سیر ئي طي کړي دي په حقیقت کښې هر یو ځانله تاریخ او تاریخي سیر لري او ترڅو چه ددغو ټولو حادثاتو او سازمانو نو اوموسساتو تاریخ اوتاریخي سیر مطالعه نکړای شي دهغو صحیح او بشپړ پوهید نه او پیژند نه او یا له هغو څخه استفاده هیڅ امکان نلري .

نوټ : پدغه مقاله کښې هغه مطالب چه پدغه علامه تحدید اوتشخیص شویدي له دغولاندې منابعو نه استعاده شویده :

۱- دجغرافیي اصول دښاغلي ډاکتر غلام عمر صالح درسي نوټ .

۲- موزیم دعناصر مرکبه آنها له ترکي منابعو نه دښاغلي محمد قدیر ترکي یار تو ترجمه دکابل مجلي په ٤١ ګڼه کښې

۳- اهمیت تاریخ عمومي سیاسي دښاغلي ډاکتر فاروق اعتمادي لیکنه دحقوق دمجلي د١٣٣٤ کال له شپږمي ګڼې نه .

٤- دسیاست دعلم پرنسیپونه دار.ان. ګلرشت تألیف په انګلیسي .

دارد ومطبوعاتو څخه

د عبدالاحد « ربیع » ترجمه

دانسان دژوند څومهم حقایق

د نوو تحقیقاتو په رڼا کښې .

ولی ؟

ولی خاندو : ـ په کوم وخت چه مونږ خپل صمیمی دوست یا څوك وینو زمونږ پرخیری یوه مسکا ښکاره شی : په دی کښې کوم شك نشته چه دا دمینی یا اخلاقی جذبی څخه پیدا کیږی مگر سبب هم ضرورلری او هغه سبب دادی چه : دداوبن دنظیریې سره سم په خندا او غریدلو کښې چه کومه عضله استعمالیږی هغه یوه ده اکثراً لیدل شوی دې چه کوم وخت دوه سپیان سره مخامخ شی نو بو پریل باندی غریږی او ددی غریدو مطلب دادی چه که ضرورت شی هر سپی به د وو دوو پښو کیدلو ته تیار دی همدارنگه بیزو دبلی بیزو دلیدلو سره غریږی څرنگه چه انسان دبیزوارتقائی صورت دی نو ځکه دا عجبه نه ده چه داخندا د غریدلو ارتقائی شکل وی .

ولی ژاړو :ـ کوم وخت چه مونږ ته کوم جسمانی یا روحانی تکلیف رسیږی نو او ښکی موولې تو ئیږی ددې سبب دادی چه ددرد دشدت له کبله ځمونږ دوینې فشار زیاتیږی او دستر گو په هغو غدو دونو کښې چه ددې فشار د مخ نیوی دپاره وی یو حرکت پیداشی او کوم وخت چه داحرکت قوی شي نو را وبه واړه څاڅکی له ستر گو څخه بهیږی اودې ته ژړا وائی .

ژړا په هر حال گټه لری ځکه چه دا وښکو له اجتماع څخه په وینو کښې لږوالی واقع کیږی اوله دی څخه زړه ته تسکین حاصلیږي . ولی تو خیږو :ـ مونږ کله کله دچاد متوجه کولو د پاره توخیږو مگر داتوخیدل مصنوعی وی اوفوراً بوهیدل کیږی د اصلی توخی سبب دادی چه په تنفسی جهاز کښې موکوم خارجی شی بلغم یا گرز نښتی وی چه دلرې کولو د پاره بې بهر خوانه هوا را وباسواو دی ته توخیدل وایو .

ولی شرمیږو :ـ کله کله دیوه لوی سړی سره د خبرو په وخت کښې دسړی رنگ سورشی یا که کوم دروغ ووایو یا گناه وکړو اوڅوك پرې خبر شي نو شرمنده شو ددی سبب څه شی دی د نوو تحقیقاتو له مخی دشرم سبب دادی چه دشرم یا خجالت*

ښاغلی سیف الرحمن سلیم
د قند له مجلې څخه

سری لمبی

هم ښا یست دی هم نغمې دی هم نشې دی — څومره زر چه تېری زیاتې شی نو ښې دی
میـګد و پلوئې بوځی چه سیل و کړی — دا ځوانۍ مودڅوو ر ځو مېلمنې دی
ستا له شو نډوئې غلاو کړه چه مسکۍ شوې — داوړې وړې غو تۍ، خو نه چه غلې دی
ډېر خوازه خوازه مین مې پرې ناراض شول — دا رښتیا خبرې چا و یل چه ښې دی
پا که مینه ئې ز ما کړ له بد نا مه — لاس دچا په خوله زه کېدم ډېرې خولې دی
کوم انصاف دی چه ګمراه وائې ته ما ته — زه خوسم یم خو دژوند لا رې کېږی دی
یو تو به ده چه بس تل را نه هېر ېږی — ګنې یا دې ز ما ټو لې میکدې دی
چه ر قیب مخې له را شی نو په شا شی — زما او ښکی ډېرې غټې ښېتنی دی

د خیا لو نو د با غچې را سره غم دی
ګیر چا پیره می ملګرو سرې لمبې دی

.....

*له کبله هغه ر ګونه چه دمخ په برخه کښی دوینې ددوران وظیفه لری په عا رضی ډول سره معطل شی او په نتیجه کښی ددې برخی وینه زیا ته شی او دې ته شرم وایو .

ولی ژېړ یږد :- د کوم خوفناك حا لت په لیدلو سره ځمو نږ وانۍ نښتی او څیره ژېړ یږی ددی وجه داده چه ځمونږ په وجود کښی چه کوم ر ګونه دی هغه دیوی یوی عضلی سره تعلق لری او هغه وخت چه ووایـریږو د ا عضلی منقبضی شی او ویښته مو ودریږی همدارنګه دخوف په واسطه زمونږ دپوستکی په برخه کښی چه کوم ر ګونه دی هغه له وینې خالی شی اورنګ مو ژېړ شی .

ولې تنفس کوو :- دسږی په واسطی کومه هواچه زمونږ په بدن کښې را کاږل کیږی هغه له اکسیجن کاربن ډای اکساید او نورو څخه جوړه ده په دی هوا کښې د سږی هوائی کڅوړې آ کسیجن انتخابوی او نوره هواد خولی او پوزی له لیارې ایستل کیږی کله کله هوائی کڅوړوته په پوره اندازې سره هوا نرسیږی د دی دپاره ځمونږاو کی راځی او هغه کمی پوره کوی .

دښاغلی حبیب الله «حبیب»
ترجمه او تتبع

قلم

قلم د لومړی ځل دپاره رومیانو استعمال کړی دی کله چه یوه رومی غوښتل چه خپل کوم دوست ته لیک ولیکی نو د تیره هډوکی په څوکه ئې دمومو پرپاڼه لغات وښکل. پس له هغه چه دخط لیکل د پاپیروس د بوټی پرپاڼو رواج شول بیا یو خاص رقم قلم هم منځ ته راغی. دا ډول قلمونه دیوه مخصوص بوټی له ډندې نه جوړیده چه «کاله موس» نومیده چه تر اوسه پوری په ایران، روسی، اونورو ختیزو مملکتونو کښی شته تر کوم وخت پوری چه راز راز دلیکلو کاغذونه په یوروپ کښی نهٔ وجوړ شوی له همدغو ذکر شویو قلمونو څخه کار اخستل کیده وروسته د بڼو (پرو) قلمونه پیدا شول د بڼو دقلمونو استعمال. دومړی ډیر شو چه په هر راز لیکلو کښی ورځنی استفاده کیدله.

دبڼو قلمونه: داقلمونه به دغټو پرندگانو لکه زاڼی اوداسی نورو له وزرونو څخه پرې کیدل چه تر اوسه موجود دی قلم ته چه په انگلیسی کښی بن وائي دپینا د کلمی رېښه ده پینا په لاتینی کښی بڼی ته وائی.

اودتسمیی وجه ئی هم دغه ده چه پخوا به قلم له بڼو څخه جوړیده دپن نایف کلمه هم چه دجیبی چاقو معنی لری په همدی وجه استعمالیږی. پخوا نو خلکو به داسی چاقو گان په جیب کښی دخپلو قلمونو له پاره گرځول.

فولادی قلمونه په ۱۸ پړی کښې جوړ شول. جوړونکی ئی «وایس» نومیده

لومړی فولادی قلمونه دقناعت وړ قلمونه نه وو. ځکه یو انگلس جوزف گیلوت په ۱۸۲۰ ع کال کښې دغه فولادی قلمونه ته ښه توگه تصحیح او جوړ کړل په ۱۸۲۲ ع کال کښې جان متیل دقلم جوړولو په چارو کښې له ماشین نه استفاده وکړه.

د پولادی قلمونو دجوړولو صنعت په امریکا کښی ۱۸۵۸ کال کښې شروع شو وروسته له نوموړی تاریخ نه دا صنعت هلته مخ په ښه کیدو شو اوس امریکا دقلم جوړولو ډیری فابریکی لری او مهمی ئې په فیلا دلیفیا او کامدن کښې واقع دی او انگلیسی مهمی قلم جوړونکی فابریکی بیا په برمنگ هام کښې جوړی شوی دی مروج قلمونه، دفولادو له نفیسی او نازکی توټی څخه جوړیږی. نوموړی توټه چه ډیره توده وی نو له دی کبله په دوهم وار کښې سړه شی وروسته له هغه داسړه شوې پولادی توټه دمخصوصو ماشینونو تر څرخونو لاندی په ټاکل شوی اندازه پری او نری کیږی وروسته دتهیه شوی

نو کو نو نه چه پر پولادو باندی
دبل ماشین پو اسطه دنو کې
په څنډه مخصوصه (برجستګی)
ایږدي چه دا ټوټه بیا په مینځ
کښې سوری کیږی هم او ترځینی
نورو فعالیتونو هم تیریږی او
بیا ډقلم نو که لاس ته راځی هغه
نو کې چه مضبوطې او ټینګی
جوړیږی بیا ددو هم ځل لپاره
تروارت لاندی نیول کیږی او بیا
په مخصوصو تیلو کښې اجول
کیږی. طلائی نو کې چه زیاتره
په خو درنګ قلمونو کښی
ورځنی استفاده کیږی دپلاتینیوم
او یا ځینی نورو سختو فلزاتو سره
ګډیږی څو چه ددې لپاره چه
لومړی طلا د ډیر استعمال له
کبله ویلی نشی او ژر له منځه
ولاړه نشی. خو درنګ قلمونه بیله
دې نه چه لکه داوسپنی قلمونو
نو کې هره دقیقه مشو انۍ ته
احتیاج پیدا کړی ځانله جلا
رنګ دذخیری لپاره په یوه حساسه
برخه کښې لری چه دا اله هغه
وخت چه په اتوماتیکی ډول سره
فشار لاندې راشی رنګ ورته
رسوی. ننۍ خو درنګ قلمونه
پنځه اساسی برخی لری.

نو که درابر او یا پلاستیک
یوه سخته: رنګ رسونکی ژبه
چه عین حال کښی درنګ دبیرل
د نښتونکی سر پوښ سره وی.

دا دخو درنګ قلمونو مهم
او عمده اجزا دی. په همدې شان نور
داسی خو درنګ قلمونه هم شته
چه تقریباً ۲۱ اجزاء هم لری
په هر صورت دا رنګه دلوړ قیمت
او نوعی دقلمونو تولیدول هم
ډیر زیاب تولیدی فعالیت غواړی
اما دیو معمولی فلم په جوړولو
کښې ۲۰۰ تولیدی فعالیتونه
اجراء کیږی څو چه دا قلم
دلیکلو او یا داستفاده کولو لپاره
چمتو کیږی.

تردی ځایه پوری موڅه
اندازه معلومات دخپلو ګرانو
لوستونکو لپاره دخو درنګ او
داوسپنی دقلمونو په باره کښې
ولیکل اوس دپنسل قلمونو په لړ
کښې هم څه ناڅه معلومات دا
لاندنیو کرښو پواسطه ناسوته
وړاندی کوو.

پنسل:

هرڅوک دخپل ضرورت او
اړتیا په اندازه د پنسل له راز
راز قلمونو څخه استفاده کوی
خو داسی به ډیر لږ خلک وی چه
دپنسل له قلمونو څخه بیخی
کار وانخلی او یا هغه ته ضرورت
ونلری. داحصایی له مخه یو
امریکائی په کال کښې اوه
دانې پنسلونه استهلا کوی او
تقریبی سجل شوی اندازه چه
په یوه کال کښی دامریکا نه
دتقاضا درفع کیدلو لپاره شوی ده
دوی دکاله یو بیلیون پنسلونه
ضرورت لری. همدا رنګه که
دغه کالنی تولید شوی پنسلونه
سره کښیږدو په اوږدوالی به
دری نیم واره پر ځمکه باندی
څراخی.

دپنسل په جوړولو کښې له
مهمو مادو څخه یو لرګی بلل
کیږی او دالرګی ښای چه ډیر
نرم وی.

دپنسل قلمونو ته د پخوا
وختونو را هسی سربی قلمونه
وائې دا ځکه چه په لومړنیو
وختونو کښې دپنسل په قلمونو

کښې سرب استعمالیده نو ځکه ورته سربی ویل کېدل اما په ننی پنسلونو کښې گرافیټ استعمالیږی خو بیا هم په هماغه پخوانی نوم یادیږی. گرافیټ له کانونو څخه را ایستل کیږی دالاس ته راغلی گرافیټ پس له ضروری فعالیتونو لکه تصفیه کېده او داسی نور کارونه د «گلې» سره یو ځای کیږی چه البته دا گلې یو ځای کول هم د مختلفو قلمونو د جوړولو سره سم تغیر مومی.

پس له دې نه چه نو موړی گرافیټ دا مرحلی تیری کړی په مخصوص ماشینونو کښې اچول کیږی څوچه دلرگی په منځ کښې ځای ور کړشی.

بیا د گرافیټ د ماشینونو د حسامو پرزو په مرسته په معینه اندازه دلرگی په مینځ کښې اېښول کیږی او بله ټوټه ور باندی نصب کیږی پس له هغه لاس ته راوړل شوی پنسل رنگ او تاپه کیږی وو روسته له هغه چه دا کارونه هم پای ته ورسیده جوړ شوی قلمونه بیا په بکسونو کښې اچوی درنګه قلمونو د جوړولو لپاره هغه وخت چه خمیره تهیه کیږي معاً رنگ پکښې اچول کیږی او ددې دپاره چه غوښتل شوی قلم لاس ته راشی پنسل جوړول هم تاریخی سیر لری په منځنیو پېړیو کښې له میټل هوډ قلمونو څخه استفاده کېده څوچه د ۱۴۰۰ په شاوخو کښې بلیك هډ قلمونه پیدا شول دا قلمونه هم تر هغه وخته پوری معمول و څوچه د گرافیټ کانونه کشف شول او بیا په پنسل جوړولو کښې د دی ما دې د استعمال میدان پراخ شو. په لومړنیو وختونو کښې کله چه د پنسل جوړولو د بشر د لاس په ذریعه کېده ډېر مشکلات پکښې موجود ؤ خو کله چه د دې مقصد لپاره ماشینونه منځ ته راغلل دا مشکلات روځ په روځ کم اولیږ شو.

استرحام

لویه خدایه ! ستا درحم دریابونه بې پایانه دی .

پر مونږ باندې درحمت باران ووروه !

* * *

ستا دغې لویې کارخانې ته زمونږ فکرونه نه شی رسېدلای ستا قدرتونه زمونږ دپوهې په معیارنه سنجول کېږی. ددریابونو تبخیر ستا په امر دی. لمر ته تانور او حرارت ورکړی دی. دبارانونو ورښت او دورېځو پیدایښت ستا کار دی. ستا د مخلوق واړه ذرات ځانته وظیفې لری چه ټول په تاکلی نظام خپل کار کوی. زمونږ ننی علم ستا د کارونو دواړو رمزونو او حقایقو دڅرګند ولونه عاجز دی ته زمونږ په حال پوه ئې زمونږ ژوند او مرګ ستا په اختیار دی. زمونږ له کمزورۍ عاجزۍ او ناپوهۍ نه هم ته خبرئی نو پخپل کرم زمونږ ګستاخی عفوه کړه !

ځکه چه ستا د رحم دریابونه بې پایانه دی !

پر مونږ باندې درحمت باران ووروه !

* * *

دا ظلمونه چه مونږ بې پر خپلو ځانونو کوو، دازمونږ اصلی فطرت ندی بلکه د نفس او شیطان په اومه کښې نښتی یو هوا او هوس را باندې غلبه لری حرص او شهوت را باندې زور اچوی خودخواهی خودغرضی، اوځانځانی راباندې سلطه لری، په تیاره کښې روان یو او رسمه لیار رانه ورکه ده، عقل موضعیف اوحواس موپریشان شوی دی، دعالی او پاك نصب العین نه منصرف شوی یو اوخود کشی کوو.

پخپل خیروشر نه پوهیږو دوست اودښمن نه بیژنو. په دغه تپه تیاره او توره شپه کښې بوغیبی نور راباندې نازل کړه!

ځکه چه ستا درحم دریابونه بی پایانه دی.

پرمونږ باندې درحمت باران وورده!!

* * *

ته خالق او رازق ئې، ته غفور اورحیم ئې، رحم، مغفرت او عفوه ستا خوی دی، مونږ دیر بدخویونه لرو ځکه بدبخته یو، ظلمونه اوفسادونه کوو، یوتربله وژنو، په وژلو هم اکتفانه کوو، یودبل په وینوخپله تنده ماتوو، دورورغوښی شکوو چل، فریب، غدر او خیانت د ځان کمال بولو. په تیری او تجاوز

افتخار کوو ستا عهد او میثاق موهېر کړی دی او نس مو په یاد دی،
ستا بندګی مو پرېښی ده او دخېټی نو کړی کوو .

نوای ارحم الراحمینه ! زمونږ کارو ته مه ګوره ، پخپل
عادت مونږ سره معامله کوه ، زمونږ د ګناهو نونه تېر شه او
مونږ د صحیح انسانیت په صراط المستقیم سم کړه !

زمونږ پر کلکو او تورو زړونو باندې درحم او به تو یی کړه !

ځکه چه ستا د رحم دریابونه بی پایانه دی !

پر مونږ باندې د رحمت باران ووروه ! !

آمین ! یارب العالمین ! !

پری مه غولېږیء !!

چه صورت ئې د انسان او سیرت ئې د شیطان وی !

چه کالی ئې سپین او زړهٔ ئې توروی .

چه په ژبه ئې یو څه او په زړه کښې ئې بل څه وی .

چه جای نماز ګرځوی او لمونځ ئې غلط وی .

چه قرآن لولی او عمل پرې نه کوی .

چه «مکروه» «حرام» ګڼی او «حرام» «خلال» .

چه نفلو نه ډېر کوی او له فرضو ښوی تېرېږی .

چه دځان ښېګڼی شمېری او د نورو عیبو نه .

چه نورونه نصیحت کوی اوځان ترې هېر وی .

چه خیانت بد ګڼی او د خاین صفت کوی .

چه په وینا کښې چالاك اوپه عمل کښې سست وی .

چه هرهرڅه وایی اوهیڅ نه کوی .

چه په سرئې شپو وی اوماغزه ئی نه وی .

چه کف او کالر لری علم او هنر نه .

چه د عصری توب دعوا کوی خونش فېشن دپاره .

چه کار کوی خوبوازې دځان دپاره

چه پیسې ئې ډېرې وې او احساس ئې کم .

چه « جوفروش ګندم نما » وی .

چه د نېکانو په لباس کښې غلا کوی .

چه «پښتو» وائی او «پښتو» نه لری .

چه دفلابرجونه ئی له لیرې ښکاری اوسپی ئی له لوږی مری

سترګې پرانیزیء! اوپه سړو کښې سړیتوب ولټویء !!

آه! څومره بېوزلی یم؟؟

د ځنګدن په حال، د مرګ په بستر، بی دمه پروت یم او خوزېدی نه شم.

آه! زما ستر ګې چا تړلی؟ زما لاسونه چا مات کړی؟ په خوله مې کوم ظالم خپل لاس نیولی او سر لاندې مې ډوډۍ لټوی؟

آه! زما وینی تښتېدلی دی او رنګ مې زېړ دی!

د کاروان جړنګی نری نری اورم، دا به د نور و قافله وی، د دغه جرس ازانګی را ته اخطار کوی:

هله! پاڅېږه!! روانیږه!!!

خو افسوس! نول طاقت مې بې ځایه صرف شوی دی، زما وینه د نورو په بدن کښې تزریق شوې ده، په زړه کښې مې قوت نشته!!

د ژوند په قدر نه پوهېدم اوس چه پوه شوم وار تېر دی، ردې ردې ګورم او هېڅ کولی نه شم. مړ نه یم خو د ژوندانه د اوږو پېټی یم.

نوای د مرګ او ژوند واکداره!

یا سم ژوند، یا مرګ!!

خزان

داوری نودې ورځې تېرې شوې اوژمی نژدې شو .

د ګلانو دښایست دوره تېره شوه، دبلبلانو نغمې نه اورو، بورا ګان نه وینو. باغ وبن کښې کراره کراری ده . . .

دسرو اوشنو ننداره په زعفرانی منظره بدله شوه .

اوس دخزان موسم اودژ پروالی وخت دی .

دونو پاڼی زېرې شوی اوتو ئیږی ... دخلکو رنګونه تښوا او ناجوړ یو ژېړ کړل... دغریبانو مخونه ډېر زېړ دی ځکه چه ژمی راځی ... دغریبا نومرګ راځی . . .

څوک وایی. پربلبلانوخزان بدتاثیر اری، ګلان رژوی. دباغونو منظره خرابیږی او . . .

زه وایم : پرغریبانو خزان بدتاثیر اری، غریبی ده او ژمی راځی. . .

هواسړه شوه کالی نشته ... رنځونه ډېردی دوا نشته .. دوډی نشته .. او...

مګربې درده خلک په خزان کښې هم دخوښی سندرې وائی .

ددرد خاوندان په بهار کښې هم دلته ژاړي او دخـزان صحنه تمثیلوي .

ځکه چه دپښتون سرو کدل خزان دی.

بهار او خزان په هرچا بېل بېل تاثیرونه لري .

زه دموسم په طبیعي خزان لکه دنورو بلبلانو په څېرخواشینی نه یم .

خوچه ژړوي مې هغه خزان دپښتون خزان دی.

آه ! دپښتنو بهاره !! ولې نه راځي !!!

مونږ او نور

نور دعلم په رڼا په اسمان خرا شو هسکو ما نړیو کښې او سی او مونږ دناپوهۍ په تورتم په دلخراشو سمڅو کښې اوسو .

نور د شلمې بېړۍ ملپوندران دی ، زمونږ نولس نه شل کېږي .

نور ځانونه ترخپل مسلك جاروي ، مونږ دین او ملیت ترنس قربانوو .

نور په اتفاق او مونږ په ځان ځانۍ کښې أول لمبریو.

نور په اصول او قانون پابندي لري مونږ په خرافاتو.

نور خپل وطن او ملت ته خدمتونه کوی مونږ د خپټې مز دوران یو .

نور پخپلو ژبو کړېږی او مونږ دنورو .

نور خپل مصنوعات پلوری مونږ دزړه سر اولا دونه .

نور د کار او فعالیت په برکت پرمخ ځی . مونږ چل، فریب او خیانت د کامیابۍ لار بولو .

نورو بحرو براو فضا تسخیر کړې، مونږ خپل ډاګونه نشولاندې کولای .

نور دڅاروو کار په ماشین کوی، مونږ تر څاروی ذلیل او تر ماشین زیات کار کوو خوبی ترتیبه .

نور له خپل کماله هواته الوزی او مونږ له ډېره کېره اسمان ته ګورو .

« نورو په کرڅو کښی سپین بر قونه لګولی دی، مونږ تراوسه ناست یو دزر نو شونټی لوګی سره سل رنګه طعام په دسترخان د نورو خلکو دی .

ز مونږ خولې جوړې شوی شنه سابه ساړه جوارې لره .

ښاغلی غلام جیلانی «جلالی»

خپله پوهه واز موی

وروستی احصائیه په فرانسه، کښی قمار بازان په سل کښی څوراښیي؟

په سل کښی ۵۰ فرانسویان په قمار اخته دی.

په فرانسه کښی وروستي احصائیه په سل کښی څو د بایسکل په سپرلۍ پوه دی؟

- په سل کښی ۳۳ تنه پدی پوه دی چه څه ډول له بایسکلو څخه کار واخلی.

- انګریزانو، په کومه پېړۍ کښی (پنجه) د ډوډۍ خوړلو په کار کښی استعمال کړیده؟

په نواسمه پېړی کښی او پخوا تر هغه یې نه پېژندله.

- ښځو په امریکا کښی په ۱۹۵۳ کال څو جوړې بوټونه مستهلك کړل؟

دوه سوه یو ویشت ملیونه جوړې.

- په امریکا کښی په څو تنو یوه لنګه غوا موجوده ده؟

په متحده ممالکو کښی هر (اته) تنه یوه لنګه غوا لری.

2 OCT31 1958
Copy

کابل مجله

تاسی کولای شیء چه دامجله په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دنمه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ١٢ کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (٣) دالره لاس ته راولیء د ښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

د یوه کال د اشتراك دیاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې دمحاسبې مدیریت ته اوپه ولایاتو کښې دهمدې مؤسسې دجاری شمېریه (٧٨٧٥) لمبر افغانستان بانك ته سیارل کېږی.

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

د پښتو ټولنې د تیرکال خپرونې

١ : پښتنې دودونه ٢ : غوره اثرونه مؤلف بناعلی الفت ٣- هغه وویل د جبران خلیل اثر

دولتی مطبعه